
له نړۍ پهر لس ورځې
ناول
Ketabton.com
ډاکټر عتیق الله (ژمن)

ketabton.com - The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

ketabton.com - The Digital Library



# دلیکوال خبري:

لومړي ټولو لوستونکو او بیا هغه کسانو ته چي مینه جذبه ژور احساسات په ځان او خپل الله تعالي باور لرونکي وي ورپسي ددي ناول ټولو مینه والو ته دزړه له کومی سلامونه وړاندی کوم خداي دي وکړي چي په هر حال کي یاست روغ رمټ او خوشحاله و اوسي.

ډیر خوښ یمه چي د خپل عمر په نسبت مي دا دریم کتاب ناول د ( د نړي نه بهر لس ورځي) په ډیره مینه بشپړ کړي او د ګرانو لوستونکي لپاره مي ځیني پیغامونه او هدفونه په نښه کړي دي خداي ډي وکړي چي خپل اخذ ورڅخه وکړي.

زما نور دوه ناولونه هم دي که چیري مو لوستي نه وي نو هغه هم درسره ولولئ انشاالله چي وخت به مو

ketabton.com - The Digital Library



ضایع نکړي او د خپل خوښې ناول به مو موندلي وي.

لومړي ناحقه سزا ناول

دوهم لار ورکې ځوان ناول

دریم دنړي نه بهر لس ورځې

ستاسي د تشویق په هیله

ډاکټر عتیق الله ژمن 🥰

ketabton.com - The Digital Library



# دناول موخه (هدف)

د دې ناول ژوره موخه دا ده چې د انسان د ژوند، مينې، زړورتيا، او باور واقعي ارزښتونه روښانه کړي. دا کيسه موږ ته ښيي چې کله انسان له ستونزو، خطرونو، او له خپل حقيقت څخه د لرې والي سره مخ شي، نو يوازې مينه، قوي اراده، او توکل دی چې کولی شي هغه له بدمرغيو وژغوري او د خوشحالۍ لوري ته يې راولي.

دا ناول دا پيغام لري چې ژوند د لنډو خو ډېر ژورو شېبو مجموعه ده، او کله چې ريښتينې مينه، اخلاص او فزيکي او روحاني نږدېوالی يو له بله سره يوځای شي، نو انسان د دنيا له هر نعمت نه غني کيږي.

دا ناول غواړي لوستونکي ته دا احساس ورکړي چې:

ketabton.com - The Digital Library



ریښتینې مینه یوازې د خبرو او وعدو نه ده، بلکې هغه وخت معنا پیدا کوي چې انسان د خپل محبوب لپاره له خطره تېر شي.

زړورتیا د فزیکي جګړې نوم نه دی، بلکې د مینې د ژغورلو، د ژوند د ارزښتونو د ساتلو، او د خپل وجدان د پیروي کولو ځواک دی.

باور د هرې سختې لارې ملګری دی. که پر خدای باور ولرو، که پر خپل محبوب باور ولرو، که پر خپل تصمیم باور ولرو، دا باورونه زموږ د کامیابۍ دروازې خلاصوي.

ژوند تر هر څه زیات د لحظو او شېبو قدر غواړي. کله چې انسان د خپل ژوند ارزښت وپیژني، نو

ketabton.com - The Digital Library



پوهيږي چې هره شيبه بايد د مينې، وفادارۍ او اخلاص سره تيره شي.

دا ناول د مينې، احساس، قربانۍ، روحاني نږديوالي، او د انسان د دننيو او بيروني سفرونو ښايسته امتزاج دی.

دا ناول دا راښيي چې:

کله ناکله موږ له دنيا څخه بهر نه ځو، بلکې زموږ د مينې او احساساتو سفرونه موږ ته داسې احساس راکوي لکه له دنيا څخه بهر چې يو.

ketabton.com - The Digital Library



# (متن)

## • لومړۍ ورځ

د کابل په ښار کې د ژمي د موسم آخري میاشت وه. د واورې کوچني ذرات به په سړک باندې ځان اچاوه او یخ هم ورځ په ورځ له زغملو وتی.

یو تور موټر له ګڼې ګوڼې څخه تیر شو او یوه ښایسته او عصري جوړ کور ته ودرېد. له موټر څخه یو ښکلی ځوان چې تورې عینکې یې وهلې وې، بوټونه یې په پښو، رسمي لباس، خریل شوې ږیره، د کور لور ته روان و. خپل لاسي راډیو ساعت ته به یې بار بار کتل او د وارخطایۍ نښې یې له ورایه ښکارېدلې.

د یوې کوټې دروازه یې ټک ټک کړه. له هغې خوا ورته غږ وشو:

ketabton.com - The Digital Library



"صبر وکړه، جامې مې لا تر اوسه نه دي اغوستې!"

ځوان چې جميل نومېده، وويل:

"ښاغلي انس! اوس هم ناوخته ده، کېدای شي موږ پرواز له لاسه ورکړو."

"سمه ده، همدا اوس درځم."

انس چې دنګه ونه، جګ قد، پراخ ځيګر، ورين تندی، او د ښو اخلاقو څښتن يو تاجر و، اوس يې غوښتل چې د يوې غونډې لپاره له هېواده بهر د ترون په موخه لاړ شي.

په ډېره بيړه يې جامې واغوستې او خپل اړين شيان يې واخيستل. جميل چې رسمي همکار او سکرتر يې و، هم ورسره روان شو.

ketabton.com - The Digital Library



په لاره کې انس وویل: "هوا خو خرابه ده، خدای دې وکړي چې کومه ستونزه پېښه نه شي."

جمیل وویل: "ښاغلي، که ستونزه پېښېدونکې وای، نو اوس به یې د پرواز د ځنډېدو خبر راکړی وای. ان شاءالله چې هېڅ نه پېښېږي او موږ به دا بریالی سفر پای ته رسوو."

تر نیم ساعت مزل وروسته هوایي ډګر ته ورسېدل. خوشبختانه، پرواز یې له لاسه ورنکړ او پر خپل وخت ورسېدل.

انس او جمیل دواړه ډېر خوشحال شول، ځکه دا د دوی لپاره یو له ګڼو ښخه ډک ترون و چې باید ځان ورته رسولی وای.

په الوتکه کې کیناستل، جمیل د کړکۍ څنګ ته او انس د جمیل څنګ ته. دواړو د یو بل په مخ کې د خوشحالۍ او کامیابۍ څرک لیده.

ketabton.com - The Digital Library



په الوتکه کې ډول ډول مسافرين ول، ځينې امريکايان، ځينې عربان، ترکان، پاکستانيان او افغانان هم ول، چې هر يو د بېلې موخې لپاره له هېواده بهر روان وو.

په دې وخت کې چې الوتکه ډکه شوه، يوه کورنۍ الوتکې ته راغله چې د انس خواته روانه وه. په دې کورنۍ کې يوه ځوانه نجلۍ، يو سپين ږيرى سړى، او دوه نور ځوانان وو.

نجلۍ راغله، د خپلې کرسي نمبر او ټکټ يې وکتل او د انس د څنګ کرسي ته کښېناسته.

نجلۍ سره له دې چې افغانه معلومېده، خو د اروپايي ښکلا نه يې هېڅ کمښت نه درلود. سره له دې چې اسلامي حجاب يې کړى و، خو يوازې يې لاسونه، سترګې او د پښو پنجه ښکاره وه.

انس سره له دې چې يو لوي تاجر او د ډېرې شتمنۍ خاوند و، خو له انجونو څخه ډېر ليرې ګرځېده. همدا يې د

ketabton.com - The Digital Library



بریالیتوب یو راز باله او خپلو همکارانو ته به یې تل ویل: "د ښځو، شرابو او نورو بې ګټې کارونو څخه لیرې وګرځئ، نو تاسو به هم زما په څېر لاس ته راوړنې ولرئ."

انس نجلۍ ته خاص اهمیت ورنکړ.

د پرواز وخت شو، ټولو مسافرو ته لاربنوونې وشوې. الوتکه حرکت وکړه او مخامخ روانه شوه.

کله چې الوتکه پورته شوه، هغو مسافرو چې دا یې لومړی ځل و چې په الوتکه کې سفر کوي، ټول وویرېدل، چې د هغو له جملې څخه د انس د څنګ نجلۍ هم وه.

هغې له وېرې خپل لاس د انس په لاس تکیه کړ.

انس هغې ته وکتل، نجلۍ خپلې غټې سترګې پټې کړې وې او لاسونه یې ټینګ نیولي وو.

ketabton.com - The Digital Library



انس پوه شو چې نجلۍ وېرېدلې ده.

کله چې دا حالت تېر شو، انس ورو ورو خپل لاس د نجلۍ له لاسه خلاص کړ او خپل لور ته یې کش کړ.

نجلۍ هم د انس دې حرکت ته متوجه شوه، ورو یې وویل:

"وبخښه! زما هېڅ پام نه و چې لاس مې نیولی دی."

انس پرته له دې چې یوه خوږه مسکا وکړي، نور یې هېڅ ونه ویل. جمیل ته یې وکتل چې هغه د کړکۍ له لارې ښکته ګوري او د ښکلو منظرو ننداره کوي.

جمیله،

تا باید د هر څه پوره چمتووالی نیولی وی، ځکه زه هلته هېڅ تېروتنه نه غواړم.

ketabton.com - The Digital Library



– **بلکل، ښاغلي! څنګه چې تاسو غواړئ، همداسې به وشي.**

انس په خپلو فکرونو کې ډوب ناست و او خپل راتلونکې پلانونه يې تنظيمول.

الوتکه هم خپله لاره لنډوله او په خورا سرعت سره يې الوتنه کوله.

انس خپل چپ غوږ ته د يوه شي آواز محسوس کړ.

هغه څنګ ته وکتل. هغه انجلۍ ناسته وه، چې د چپس يوه قطۍ ورسره وه. کله به چې چپس يې د خوړلو لپاره له قطۍ نه رااېسته، قطۍ به يو ډول آواز کاوه.

انس هېڅ ونه ويل.

خو انجلۍ په شرمېدلې لهجه او خفه آواز ورته وويل:

– آيا تاسو چپس خورئ؟

ketabton.com - The Digital Library



– نه مننه، زه يې نه خورم، تاسو يې وخورئ.

په همدې خبرو کې وو چې ناڅاپه د خطر زنګ ووهل شو.
په ټولې الوتکې کې داسې ځوک پاتې نه شو چې د وېرې احساس دې ونه کړي.

په سپيکر کې همدا غږ.ونه اورېدل کېدل:
– "لطفاً ځانونه محکم کړئ، د قمر بندونه مو خلاص نه کړئ!"

مسافرو شور جوړ کړ، ځينو خو سترې چيغې ووهلې.

په مسافرو کې د ډول ډول دينونو پيروان وو.
چا به ويل: "ای مِري بَګوان!"
چا به ويل: "يا الله!"

ketabton.com - The Digital Library



او ځینو خو له وېرې چپ ناست وو.

الوتکه یوې او بلې خواته کږه وږه شوه، آواز یې هم بدل شو، او لږ وروسته الوتکه مخامخ د ځمکې پر لور روانه شوه.

د انس څنګ ته انجلۍ او جمیل دواړو چیغې وهلې، حتی جمیل خو له وېرې انس ټینګ نیولی و.

انس، سره له دې چې مخکې له داسې حالت سره نه و مخ شوی، بیا هم د نورو کسانو په پرتله ډېر زړور ناست و.
خو په زړه کې یې ویل: "زه به داسې ژر نه مړ کېږم. زما ډېرې هیلې او ارمانونه پاتې دي. زما عمر خو لا اوس پنځه ویشت کاله دی..."

بیا یې الله ج ته توکل وکړ، سترګې یې پټې کړې او له ځانه سره یې وویل:
"یا الله! اوس نو یوازې ته مرسته کولی شې!"

ketabton.com - The Digital Library



الوتکه بیخي ځمکې ته نږدې وه چې ناڅاپه یو ستر آواز واورېدل شو.

کلکینونه مات شول، د مسافرو بستې او بیکونه ښکته ولوېدل، او اوبه الوتکې ته داخلې شوې.

انس ژر خپل قمر بند خلاص کړ او جمیل ته یې هم د دې کار وویل. جمیل هم خپل قمر بند خلاص کړ.

انس په لوړ آواز وویل: "ټول کسان قمر بندونه خلاص کړئ او د الوتکې نه ووځئ!"

په څو شیبو کې الوتکه له اوبو ډکه شوه. ځینې خلک لا هم په څوکۍ بند پاتې وو، خو ځینو بیا ځان له الوتکې نه وباسه.

انس د جمیل لاس ونیو، خو د جمیل پښه د څوکۍ لاندې راګیر شوې وه. اوبه هم تر سینه پورې رسېدلې وې، لږ پاتې

ketabton.com - The Digital Library



و چې دواړه د اوبو لاندې شي. خو په هماغه شېبه د جميل پښه خلاصه شوه، دواړه د دروازې په لور په اوبو کې تېرېدل.

خو لاره ډېره تنګه وه، ځکه الوتکه اوس تقريبا اويا سلنه له اوبو ډکه شوې وه. د چت او اوبو تر منځ يواځې لږ فاصله پاتې وه، چې دواړه د ډېرو ستونزو سره تېرېدل.

دروازې ته نژدې شول، که ګوري يوه انجلۍ په اوبو کې ښکته پورته کېږي او د غټ غټ چيغو سره د مرستې غږونه کوي.

جميل له الوتکې ووته، خو انس ځان انجلۍ ته ورساوه. هغه يې په خپله غېږه کې ونيوله داسې چې د انجلۍ سينه د انس له سينې سره کلکه ونښته. دواړو د يو بل د بدن تودوخه احساسوله، خو دا ځای د داسې احساس ځای نه و.

ketabton.com - The Digital Library



دلته هر څوک یوازې ځان ژغورلو ته لګیا وو، بل چا ته یې نه کتل.

انجلۍ هم هېڅ ونه ویل، یوازې د مرستې په تمه یې انس سخت نیولی و. انس هم په اسانۍ سره هغه له الوتکې وباسه.

د دوی خوشبختي دا وه چې الوتکه داسې ځای لوېدلې وه چې شاوخوا ډېرین قمرونه او د جزیرې په څېر ټوټې وې.

ټول خلک د اوبو په منځ کې لامبېدلو، هر څوک یوې یا بلې خوا ته روان وو. ځینو خو لامبو نه وه زده، هغوي لږ لږ پرتکونه وهل، خو وروسته اوبو لاندې کړل. دومره اوبه به یې وڅښلې چې د ټول عمر لپاره به یې بس وای.

انس، جمیل او هغه انجلۍ ځانونه یوې ډبرې ته ورسول. انجلۍ هم د ټوخې او ژړا تر منځ وه، جمیل خو له وېرې هېښ پښ ولاړ و، هېڅ یې نه ویل.

ketabton.com - The Digital Library



آسمان وریځې نیولی و، سخت باد هم و.

هغوی چې له اوبو وتلي وو، اوس ساړه ونیول. دا باد ډېر سوړ او تېز و، چا نه‌شو زغملی.

انجلۍ له یخ نه ریږدېده، اوښکې یې د اوبو سره ګډې شوې وې. په ژړا یې وویل: "زما خاوند، ورور، او پلار مې چېرې دي؟"

بیا یې د اوبو لور ته منډه کړه.

انس له لاسه ونیوه، ورته ویې ویل: "صبر وکړه، هغوی به ځانونه وژغوري."

خو انجلۍ له هیلې ډکه لهجه کې ورته وویل: "ته یې له اوبو راوباسه، هیله کوم، وژغوره یې! که نه، هغه به غرق شي!"

ketabton.com - The Digital Library



انس ورته وویل: "سمه ده، زه به هڅه کوم. خو ته دلته پاتې شه."

بیا یې جمیل ته مخ واړاوه: "جمیله! ته به له دې سره وې، پام پرې کوه! زه ژر بیرته راځم."

جمیل سر ښکته پورته کړ، خپل کوټ یا بالاپوش یې په انجلۍ واچاوه، که څه هم هغه هم لوند و.

مازیګر و، لمر د سمندر شاته د ځان پټولو په حال کې و...

انس په اوبو کې یوه او بله خوا نارې وهلې، خو هېچا یې آواز وانورېد. تر ډېرو هڅو وروسته بېرته له اوبو راووته او نا هیلی د نجلۍ لور ته راغی. دا هغه وخت و چې د شپې تیاره تازه خپره شوې وه او د لمر ځلا یې ځای د سپوږمۍ کمزورې رڼا ته پرې ایښی و.

نجلۍ چې له لرې انس ولید، نو ناڅاپه یې چیغې او فریادونه وکړل او په ډېر حسرت یې ژړل.

ketabton.com - The Digital Library



انس او جمیل دواړو هڅه کوله چې د صبر او زغم خبرې ورته وکړي، خو د نجلۍ اوښکې لکه د فوارې یو پر بل پسې تویېدې.

انس وویل:

«اوس ماښام شو، تلیفونونه هم لامده شوې دي او دلته د شبکې سیګنال هم نشته. باید دا شپه همدلته تېره کړو، سبا به بله خوا ته لاړ شو.»

سپوږمۍ او ستوري د تیارو واکمني ماته کړې وه، هر څه د دې ډبرینو غونډیو په منځ کې روښانه ښکارېدل.

خو دلته یخ شدید و، داسې څه یې نه لرل چې د دې سړې هوا مخه پرې ونیسي.

د یخ سره سره لوږې هم دوی ته د وېرې احساس ورکاوه، ځکه دلته یوازې ډبرې او اوبه وې، نور هېڅ نه.

له لرې د لیوانو او سپیو غپا اورېدل کېده چې نور هم ویره او وحشت خپرېده او د دوی پر زړونو یې اغېزه کوله.

ketabton.com - The Digital Library



انس وویل:

«موږ درې واړه سترړي یو، یخ هم ډېر دی. راځئ چې دلته د ډبرو په منځ کې یو خوندي ځای پیدا کړو او همدلته ویده شو.»

خو جمیل او نجلۍ هېڅ ونه ویل، داسې ښکارېده لکه چې د انس خبره یې نه وي اورېدلې.

نجلۍ وویل:

«زه خپله کورنۍ غواړم! زه دلته نه پاتې کېږم، زه غواړم د خپل پلار او ورور غېږې ته ځان ورسوم.»

جمیل په لړزانده غږ وویل:

«ستا خبره سمه ده، خو اوس هېڅ نه شي کېدای. موږ نه پوهېږو چې هلته به څه راته مخ ته شي. د انس خبره قبوله کړه او زموږ سره پاتې شه، د ژوندي پاتې کېدو چانس شته.»

ketabton.com - The Digital Library



نجلۍ لږ فکر وکړ، بیا یې وویل:

«سمه ده، خو زه به چېرې ویده شم؟»

انس وویل:

«راځه، یو ځای به په ګډه پیدا کړو چې خوندي وي او له هېڅ خطر سره مخ نه شو.»

دری واړه د غونډیو او درو په منځ کې روان وو.

یخ باد د نجلۍ وربښمین ویښتان یوه او بله خوا اړول، د نجلۍ زامنې د یخ له امله کړپ، کړپ کول، خو څه یې نه ویل.

بیا یې یو ځای پیدا کړ چې د سیند په غاړه و.

ډبرې ډېرې لوړې وې او په منځ کې یې یو خالي ځای و.
همدا ځای یې د شنېدو لپاره مناسب وباله.

جمیل د انس څنګ ته څملاست او خپل بالاپوش یې په ځان واچوه.

ketabton.com - The Digital Library



انس هم داسې وکړل، خو نجلۍ لا هم ناسته وه او تر ډېرې مودې پورې یې دواړو ته کتل.

هغوی ویده وو.

ښایي نجلۍ فکر کاوه که چېرې د دوی ترځنګ ویده شي، انساني جذبه به یې راویښه شي او خدای مه کړه چې څه ناوړه پېښه رامنځته نه شي.

په همدې فکرونو کې غرقه وه، خو آخر یې زړه ورته وویل چې د انس څنګ ته لاړه شه او هلته ورسره په یوه بستر کې ویده شه.

نجلۍ هم ورغله او د انس څنګ ته څملاسته، خو انس ویده و او له هېڅ شي خبر نه و.

د شپې دریمه برخه وه چې انس سترګې وغړولې، خو سترګې یې همداسې رډې پاتې شوې.

ketabton.com - The Digital Library



نجلۍ انس په غېږ کې نیولی و، ویښتان یې د انس پر سینه خواره واره وو.

انس فکر وکړ، ښایي نجلۍ دا کار د یخ له امله کړی وي او له ځانه ناخبره وي.

خو انس هم انسان و. تر دې دمه هېڅکله دومره نېږدې له نجلۍ سره نه و شوی.

ډول ډول فکرونه یې ذهن ته راغلل، خو ځان یې کنټرول کړ، د نجلۍ د نرم بدن پر ځای یې یوازې د هغې د ویښتانو خوشبویي احساس کړه او بیا یې سترګې پټې کړې.

## • دوهمه ورځ

د سهار لمر راوخوت. لومړی ځوک چې سترګې یې خلاصې کړې، هغه جمیل و.

ده په نورو ملګرو غږ وکړ او هغوی هم له خوبه راپاڅېدل.
انس چې لا یې سترګې له خوبه نیمې پټې وې، ورو ورو یې د

ketabton.com - The Digital Library



لمر د وړانګو تودوخه احساس کړه. کله چې یې سترګې پټې له خوبه خلاصې کړې، د یوې ښکلې منظرې ننداره یې وکړه.

لمر تازه د سیند له شانه راختلی و، هوا سړه او د آسمان لویدیځ لور ته یوه غټه، توره، طوفاني وریځ ښکاره کېده. دا وریځ د هر لیدونکي زړونه اندېښمنول.

انس وویل:

"موږ باید ژر د نورو کسانو سره یوځای شو، یا لږ تر لږه د ښار خدماتو ته ځان ورسوو."

ناڅاپه د یوې انجلۍ چیغه پورته شوه:

"څوک یې؟ څوک یې؟!"

انس ژر د هغې خواته منډه کړه. انجلۍ یوې خوا ته ګوته نیوله. د هغې خوا یو ګڼ ځنګل و چې د سیند له غاړې څو کیلومتره لرې پروت و.

ketabton.com - The Digital Library



انس پوښتنه وکړه: "څه وشول؟"

انجلۍ بېړه سره وویل: "ما یو سړی ولید، هغه د ځنګل خواته روان و!"

انس وویل: "موږ باید هغه پسې ورشو، شاید هغه هم د همدې الوتکې مسافر وي."

جمیل ورغبرګه کړه: "ته څنګه پوهېږې چې هغه هم مسافر دی؟"

انس وخندل: "بې عقلـه! دلته نور څوک کېداى شي؟"

دری واړه د ځنګل په لور په بیړه روان شول. کله چې ځنګل ته ورسیدل، شنه لوی ونې، لوړ لوړ ډډونه او یو ډول روحاني

ketabton.com - The Digital Library



سکون خپور و، خو د ویرې او وحشت نښې هم پکې موجودې وې. ځنګل لوړې ژورې سیمې درلودې.

دوی پسې ننوتل، خو هغه سړی نور ښکاره نه و.

انس په لوړ آواز غږ وکړ: "څوک شته؟ څوک شته؟ موږ مرسته غواړو!"

خو هېڅ ځواب یې وا نه ورېد.

انجلۍ اندېښمنه شوه: "موږ باید بیرته لاړ شو، دا ځای ماته ښه نه ښکاري."

انس وویل: "دا ځای سم دی، موږ باید تر دې ځنګل واړوو، شاید هلته نور انسانان پیدا کړو."

ketabton.com - The Digital Library



انجلۍ غوسه شوه: "ته کوم پيغمبر يا جن يې چې راتلونکي درته معلوم دي؟ ولې بايد ستا خبره ومنو؟"

دا وويل، غلې شوه او شاته يې مخ واړاوه چې اوښکې پټې کړي.

انس غلي، خو بيا هم وويل: "زه پيغمبر نه يم، زه يوازې د تجربې له مخې وايم. که ته نه غواړې له موږ سره لاړه شې، نو مجبوره نه يې، خو زه نه شم کولای چې تا دلته يواځې پرېږدم."

جميل مداخله وکړه: "اوس دا د جنګ وخت نه دی، بايد د خلاصون لار پيدا کړو."

انس روان شو، خو کله چې شاته يې وکتل، انجلۍ هلته نه وه.

انس وارخطا جميل ته وويل: "انجلۍ چېرته ده؟!"

ketabton.com - The Digital Library



جمیل هم حیران شو: "زه نه پوهېږم، همدلته وه!"

انس غوسه شو: "تا ولې هغه یواځې پرېښوده؟! نه پوهېږې چې دا انجلي ده او نه شي کولای له خطره ځان خلاص کړي!"

جمیل وویل: "قسم خورم، زه نه پوهېدم چې دا به له موږ څخه بېله شي."

انس وویل: "اوس ژر هغه ولټوئ!"

دواړه د ځنګل په اوږدو کې د انجلۍ پسې وګرځېدل، خو لکه چې دا نجلۍ د ځمکې له مخ نه ورکه شوې وي. هېڅ یې پیدا نه کړه.

ketabton.com - The Digital Library



انس پر یوه تیږه کیناست، ستړیا او لوږه یې له ځېرې ښکاره وه. د جمیل حال تر انس هم خراب و.

جمیل ساه واخیسته: "موږ باید د هغې لپاره خپل ژوند د خطر سره مخ نه کړو. دا د هغې خپل انتخاب و."

انس وویل: "ته هم سم وایې... راځه، ځو."

باران هم پیل شو، د طوفاني باد سره. د ونو ښاخونه یوې او بلې خوا ته ټيټ او جګېدل. عجیبه صحنه وه؛ باران و، خو د ونو د ضخامت له امله باران تر ځمکې نه رسېد.

یخ، لوږه او ختړه دوی ډېر ستړي کړي وو. قدمونه یې ورو ورو شول. له لرې یوه جونګړه ښکاره شوه، لکه د ونو له ډډونو جوړ کوچنی کور.

ketabton.com - The Digital Library



دوی ورغلل، خو هغه څه چې ولیدل، د دوی د امید خلاف و. انجلۍ په یو غټ پړي ترل شوې وه. د بدن ځینې برخې یې په وینو ډبې وې. سر یې ځوړند و، ویښتان یې پر مخ خواره وو.

انس او جمیل له حیرت او ویرې ولاړ پاتې شول. مخ ته یې ورنږدې شول، خو ناڅاپه یو غږ د انس غوږ ته ورسېد. کله چې مخ یې اړاوه، یو قوي ګوزار یې پر سر وشو او پر ځمکه ولوېد. جمیل هم بې سده شو.

انس چې سترګې خلاصې کړې، سر یې سخت درد کاوه، لاسونه یې ترل شوي وو. جمیل هم د ده تر څنګ بېهوښه پروت و.

انس ګوري، چې یو عجیب، وحشتناک کس مخې ته ولاړ دی. اوږده ویښتان، تور سترګې، لوڅ بدن، یوازې ځینې ځایونه یې پوښلي. په یوه لاس کې نیزه لري او په بل لاس کې یوه کټوره. د کټورې لاندې د جمیل له زخم وینې څڅي.

ketabton.com - The Digital Library



انس غږ وکړ: "ته څوک یې؟ ولې موږ وهې؟"

خو هغه کس پر عجیب لهجه خبرې کولې، چې انس پرې نه پوهېده.

خو هغه سړي چیغې وکړې، ناڅاپه ګڼ شمېر کسان د ونو له څانګو راکښته شول. ټول یو ډول جامې لرلې، ناڅاپي خوښي یې کوله.

باران د انجلۍ پر مخ څاڅکي څاڅکي پرېووت. هغې سترګې خلاصې کړې، انس ته یې هیله من نظر وکړ، خو بیا بې سده شوه.

ماښام شو، باران ودرید، خو یخ لا ډېر قوي و. لوږه او تنده دواړه پر انس او جمیل زورولې وه، خو لاسونه یې تړلي وو.

ketabton.com - The Digital Library



انس وویل: "موږ ته اوبه راکړئ! موږ مړه کیږو! تاسې انسانان نه یاست؟ تاسې د کومې دنیا مخلوق یاست؟!"

هغوی یو بل ته وکتل او بیا یې په زوره سره وخندل، لکه انس چې کومه ټوکه کړې وي.

ناڅاپه ټول وخوځېدل، داسې لکه چې کوم مهم کار پېښ شوی وي. ټول په درناوي لاسونه په نامه ودرېدل. د لیرې نه لوړې لوړې چیغې د دوی غوږونو ته رسېدې چې ورو ورو نږدې کېدلې.

انس هاغه لوري ته متوجه شو، که ګوري خلکو یو کس، چې د دوی په څېر مسافر ښکارېده، را روان کړی دی. په سختو وهلو یې وهی، د سوټیانو او لرګیو ګوزارونه پرې باران وو. د هغه کس له بدن څخه وینې څڅېدې، چیغې یې وهلې او زارۍ یې کولې.

ketabton.com - The Digital Library



تر ځو چې راغلل او د دوی ترخنګ یې کېناوه. لږ وخت وروسته یو ددې خلکو له مشرانو څخه ښکاره شو. ټول ورسره سجده ته ورته حرکت وکړ. هغه نږدې راغی، د هغه بېچاره یې له سر نه ونیو او د خلکو ترمنځ یې ځملولی.

مشر په خپله ژبه یو کس ته اشاره وکړه. هغه ورغی او له دې مسافر څخه یې ټول کالي او جامې وویستې. سړی یې لوڅ پرېښود.

انس د شرم له امله د انجلی خواته وکتل، هغې ژړل او سترګې یې پټې کړې وې.

مشر بیا یو څه وویل. بل کس ورغی، د مسافر په نس باندې کېناست. لویه برچه یې ورسره وه. د سړي ویښتان یې راکش کړل او په غاړه یې چاړه تېره کړه. سړی لږ لږ وخوځېد او بیا بې حرکته پر ځمکه پرېوت. ساه یې وخته، وینې یې پر ځمکه ډنډ شوې.

ketabton.com - The Digital Library



ټول خلک د خوښۍ نڅا ته ولاړل. مشر یې د ترنم په ډول لوړې ناري وهلې.

انجلي او جمیل چې دا ویرونکې منظره ولیده، له وېرې یې ناري شروع کړې.

انس له ځان سره وویل: «دا څه وحشت دی؟ دا څنګه انسانان دي؟ ایا دوی به موږ همداسې ووژني؟»

هغوی د هغه کس جسد په رسۍ باندې پورته ځوړند کړ. د هغه وینه یې په پیالې کې راټوله کړه او بیا یې خلکو ته وویشله. هغوی په ډېره خوشحالۍ دا وینه وڅښله او خوند یې ترې اخیسته.

شپه ډېره تیاره وه. هر خوا چوپتیا خپره وه. یوازې د لیرې نه د لیوانو او سپیانو غپا اورېدل کېده. شپه تر نهایت ویرې ډکه وه.

ketabton.com - The Digital Library



انس په خفي آواز وویل: «ماته څوک نږدې یې؟»

خو هیڅ غږ یې په ځواب کې وا نه ورېده.

بیا یې غږ وکړ: «ماته څوک نږدې یې؟»

لږ شېبه وروسته یې یو ریږدیدلی او ژړا ډک آواز واورېد. دا هغه انجلۍ وه.

«زه یم... څه وایې؟»

انس: «ماته نوره هم نږدې شه، هله ژر کوه!»

انجلۍ: «ته اوس له موقع څخه استفاده کوې؟ دا ځای د دې خبرو نه دی!»

ketabton.com - The Digital Library



انس: «افففف انجلي، اعصاب مې خرابوه مه! څه چټیات وایې؟ ژر شه، خپل لاسونه زما لاسونو ته ورنژدې کړه، دا د رسۍ غوټه خلاصه کړه. وخت نه‌شته، هله ژر کوه!»

انجلۍ هم، په بیړه سره ځان ورنژدې کړ، خو د تورې تیارې له امله هیڅ نه معلومېدل. د انس په لارښوونه دواړه ډېر سره نږدې شول.

هغې د انس د لاسونو رسۍ خلاصولې، انس هم په تلوار د انجلي لاسونه خوشي کړل. بیا یې په جمیل پسې غږونه وکړل. جمیل لېرې تړل شوی و. هغه هم خوشی کړل سو.

شا او خوا یې وکتل، خو هیڅوک ورته ښکاره نه شول.

انس وویل: «دا ټول خلک چېرته دي؟ ولې هیڅوک نه لیدل کېږي؟»

ketabton.com - The Digital Library



جمیل: «هله ژر کړئ، درځئ! مخکې له دې چې دوی خبر شي!»

دریواړه په خفی قدمونو د وتلو هڅه وکړه. کله چې له هغه ځایه لږ څه لېرې شول، درېواړه لاسونه سره نیولي وو او منډې یې کړې، خو د تاریکۍ له امله یې نشو کولای چې ډېر چټک ځغلي.

په همدې منډو کې د سهار رڼا د تورې تیارې واکمني ختمه کړه.

## • دریمه ورځ

د لمر وړانګي د جمیل په سترګو ولګېدې، سترګې یې نیمې خلاصې کړې. بیا یې د ځنګ سړي ته، انس ته غږ وکړ.

انس هم له خوبه راویښ شو. شاوخوا یې وکتل. ټوله دښته وه، د لرې نه یو ځنګل ښکاره کېده، هغه هماغه ځنګل و چې دوی ترې تېره شپه تښتېدلي وو.

ketabton.com - The Digital Library



انس وویل:

– جمیله! هغه نجلۍ چیرته ده؟

جمیل وکتل:

– والله نه پوهېږم، پرون ماښام خو دلته وه.

دواړو شاوخوا ولټول.

انس وپوښتل:

– د هغې نوم څه و؟

جمیل ځواب ورکړ:

– هغې ماته خپل نوم زهرا ویلی و.

دواړو په لوړ آواز د زهرا نوم اخیسته، خو هېڅ ځواب نه راتله.

ناڅاپه له لرې یو تورې ډلې ښکاره شوې.

انس، اندېښمن شو:

ketabton.com - The Digital Library



ـ دا څوک دي؟ ولې زموږ په لور را روان دي؟

کله چې ډله ورنږدې شوه، پوه شول چې دا هماغه مسافرین دي چې د سختو حالاتو سره سره ژوندي پاتې شوي وو.
په هغوی کې زهرا هم وه.

زهرا وویل:
ـ ما دا خلک د شپې په تیارو کې ولیدل. زه ورپسې شوم. کله چې ورسېدم، نورو ته مې هم خبر ورکړ چې انس او جمیل هم دلته دي. نو هغوی هم زموږ د ژغورلو لپاره راغلل.

انس په مهربان نظر ورته وکتل:
ـ مهرباني وکړه مات ته یوازې انس وایه، ښاغلي انس مه وایه. خو ولې دې موږ نه وینولو؟ که څه پېښ شوي وای، ته خو یوازې وې...

انس لا خبره نه وه ختمه کړې چې یو کس ور پرې کړ:

ketabton.com - The Digital Library



– اوس دا خبرې مه کوئ، مهم دا دی چې موږ سره یو ځای ده. دا اوس خاوند او ورور لري.

انس لږ په غوسه ورته وکتل:

– دا خاوند او ورور یې چیرته وو کله چې دا له سختو ستونزو سره مخ وه؟

دوی یو بل ته وکتل. یو کس، چې عرب و، په عربي ژبه څه وویل. بل کس یې ژباړه وکړه:

– وایي چې نور باید خپل سفر ته دوام ورکړو، بې ضرورته بحث مه کوئ.

امیر، چې د زهرا کوژدن و، د هو سر وښوراوه:

– هو، باید همداسې وشي، کنه نه پوهیږم د چا پوزه او د چا خوله به ماته شي.

ketabton.com - The Digital Library



دوی یو بل ته نږدې روان وو. ټوله دښته وه. بوټي نه وو، شګه وه. له لرې تورې وريځې د آسمان په څنډه کې ښکاره شوې، برېښنا او تندر هم ورسره غږېدل. داسې معلومېده لکه د کومې لويې پېښې اعلان.

یو بوډا هندو، په اردو ژبه وویل:

ــ ژر شئ! باران او یخ راتلونکی دی، بیا به ډېر مشکل شي.

ټول تک ته چټک روان شول.

جمیل، چې د انس ترڅنګ روان و، ورو ورته وویل:

ــ دا نجلۍ خو ځوانه ده، نو دا خاوند یې څنګه؟

انس څه ونه ویل.

جمیل بیا وویل:

ــ ښاغلي انس! تا وا نهورېدل چې ما څه درته وویل؟

ketabton.com - The Digital Library



انس سترګې پټې او خلاصې کړې، داسې ښکارېده لکه دا خبره يې زړۀ ته لوېدلې وي.

– ها، څه دې وويل؟ کومه نجلۍ يادوې؟

جميل وخندل:

– هغه زهرا... هغه ښکلې نجلۍ.

انس، خواشينی شو:

– جميله! موږ په څه حال کې يو، ته څه وايې! بې عقله، تا خو د هغې نوم هم زده کړی. نور يې مه يادوه، ځکه هغه اوس خاوند لري او ورور لري.

جميل وويل:

– سمه ده، نه يې يادوم. خو...

انس يې خبره پرې کړه:

ketabton.com - The Digital Library



– اوس نور څه مه وايه، د هغې نوم هم مه اخله.

جميل سر ځوړند روان شو.

په لاره کې يوه حجاب لرونکې نجلۍ د انس ترڅنګ شوه. ورو يې ورته وويل:

– تا خو مننه هم ونه کړه.

انس حيران شو:

– ته څوک يې؟ او ولې بايد مننه وکړم؟

انجلۍ موسکۍ شوه:

– زه زهرا يم. مننه خو بايد وکړې ځکه ما دومره خلک تاته راوستل.

انس ژور اسوېلی وکړ:

ketabton.com - The Digital Library



– ته یې؟ سمه ده زهرا جانی! اوس لاړ شه د خپل میړه ترڅنګ ودرېږه. نور ولې زما سره خبرې کوې؟

زهرا، لږ خفه شوه:

– تا اوس د هغه خبرې جدي ونیوي؟ هغه یوازې زما کوژدن دی، هغه وخت مې قبول کړی و چې زه لا ماشومه وم. زه هغه نه غواړم، خو د پلار له امله مې څه نه وو ویلي. اوس مې زړه بل ځای ته دی.

انس ژر د موضوع اړولو هڅه وکړه:

– ته باید له ما څخه مننه وکړې، ځکه ما دې ځو ځل ژوند له مرګه ژغورلی دې خو تا هر ځلې یواځې جنګ راسره کړې دې.

زهرا شرمېدلې وویل:

– هو، سمه ده. زه بخښنه غواړم، اوس مننه کوم. ښاغلې انس! مننه.

ketabton.com - The Digital Library



انس وخندل:

– ستا څخه هم مننه چې زه دې یاد وم.

زهرا یو خندا وکړه، لا یې خندا نه وه خلاصه شوې چې امیر، د هغې کوژدن، راغی. زهرا یې په غوسه لاس کې ونیوه او شاته یې یوړه. انس د سترګو له کونجه ورته وکتل، هغوی دواړه سره لانجه کول.

جمیل ورته وویل:

– ښاغلي انس، دا انجلۍ څوک وه؟

انس نفس راویست:

– جمیله، لږ غلی شه! اوس زه درته حساب درکوم.

جمیل وخندل:

– سمه ده، سمه ده، غلی سوم!

ketabton.com - The Digital Library



سفر يې دوام درلود. کله کله جميل ځان ته مسکېده. باران هم پيل شو. د لمر د لوېدو وخت و. د باران څاڅکي د ځمکې پر مخ د ټک ټک غږ کاوه.

باران تيز شو. هندو راج، په اردو ژبه وويل:

– ژر شئ! مخته يو ځای شته، هلته به ځانونه د باران څخه پټ کړو.

ټول د هغه پسې روان شول.

د باران سره بريښنا، تالنده او تيز باد هم وو. د باران هر څاڅکی د انسان پر پوستکي د ستنې په څېر لګېده. ټول د يخ له امله رېږدېدل، خو د پټېدو کوم ځای نه وو.

توره وريځ لږ وروسته تېره شوه. ټول لمده وو. يخ باد لا هم چلېده. لمر هم د لرې غرونو شاته پټ شو.

ketabton.com - The Digital Library



هندو راج وویل:

– زه د سمندر بوی حس کوم، داسې ښکاري چې نږدې سمندر وي.

یو ترکي، په ترکي ژبه وویل:

– زه هم دا بوی حس کوم، خو که دا سمندر وي، زموږ لاره غلطه ده. باید شاته ولاړ شو یا بله لاره پیدا کړو.

راج، سترګې پټې او خلاصې کړې:

– ستا خبره سمه ده، خو موږ بله لاره نه لرو، باید همداسې روان شو.

ټول خلک حیران پاتې شول چې اوس باید کوم لوري ته لاړ شي.

ketabton.com - The Digital Library



هغه عرب چې سور او سپین رنګ یې لرلو، شنې سترګې یې وې او چاغ غټ سړی و، په عربي ژبه وویل:

"زه په دې لاره له تاسو سره نه ځم! موږ له یوه سمندر څخه تښتېدلي یو، اوس بل سمندر ته روان یو!"

یو بل کس ژر دا خبره ترجمه کړه.

انس ځواب ورکړ:

"کاکا! موږ سل فیصده مطمئن نه یو چې هلته به خامخا سمندر وي. موږ باید لاړ شو، وګورو چې هلته څه دي، لاره شته که نه."

د انس خبرې څو کسانو تایید کړې.

خو بحثونو زور واخیست. هر چا به یو څه ویل. ځینې د عرب طرف ته تلل غوښتل او ځینې د انس او د هندو راج له ډلې سره پاتې شول.

ketabton.com - The Digital Library



زهرا هم د انس په خوا ولاړه وه، خو امیر ورپسې راغی، لاس یې ونیو او د عرب ډلې لور ته یې کش کړه.

همدا وخت هغه سور ترکې، چې ژیړ ویښتان یې لرل او ګرد خولۍ یې پر سر وه، غږ وکړ:

"تاسې دا لانجه دلته پرېږدئ! دا وخت د جګړې نه دی! تاسې څه کوئ هاا؟"

ټول یو لحظه چوپ شول. بیا د هندو راج خبره په ګډه ومنل او د هغه په لوري روان شول.

ماښام نږدې کېده. د ځمکې پر اوږدو ستوري خورې ورې ښکارېدل، لکه د مسافرو په حالت خندېږي.

چې ورسېدل، ربښتیا هم د هندو راج او د انس د اټکل سره سم، هلته سمندر وو. خو د ساحل پر غاړه هر ځای مات مات لرګي

ketabton.com - The Digital Library



پراته وو. د سمندر څپې سختې وې، یوه پر بله پسې راتلې، غړونه یې کول، او جوش یې درلود. ستوري د سمندر په اوبو کې داسې انځورېدل، لکه دوه اسمانه چې سره مخامخ شوي وي.

د عرب ډلې خلکو غړونه پورته کړل:

"موږ خو ویلي وو چې دلته سمندر دی! تاسې ولې موږ دومره اوږد سفر ته راوستلو؟"

هندو راج چې پخپله هم ملامت معلومېده، غمجن ولاړ و. نه پوهېده چې څه وکړي او څنګه دا جنجال ختم کړي؟

خلکو یو پر بل تورونه لګول. انس هم په فکر کې ډوب ولاړ و. سمندر ته یې کتل. حل لاره نه تر سترګو کېدله. فکر یې کاوه: "دا څه بلا ده؟ ژوندي پاتې کېدلو ته هېڅ وسیله نه لرو، خو هیله مو لا ژوندۍ ده. الله ته مو تکیه ده. کېدای شي چې سلامت خپل کلي ته ورسېږو."

ketabton.com - The Digital Library



همداسې ژور فکرونه یې کول، چې ناڅاپه چا د هغه پر اوږه لاس کېښود. په اردو ژبه یې ورته وویل:

"ایا ته اردو پوهېږې؟"

انس چې پورته وکتل، هندو راج و. بریتونه یې تر پخوا ډېر اوږده معلومېدل. انس هم په اردو وویل:

"هو، لږ لږ پوهېږم."

راج وخندل:

"ډېر ښه! ما ته داسې ښکاري چې موږ باید له دې لرګیو نه یوه کښتۍ جوړه کړو او د دې سمندر نه واوړو."

انس چې لرګیو ته یې پام شو، ورو ویل:

"خو میخونه نه لرو، او کسب هم چا ته نه دی زده. بل دا چې موږ نه پوهېږو چې د دې سمندر هاخوا څه شی دی!"

راج ځواب ورکړ:

ketabton.com - The Digital Library



"ستا خبره سمه ده، خو یو چم به پیدا کوو. کښنتۍ باید جوړه کړو! زه فکر کوم چې دا سیمه د هندوستان پورې تړلې ده. ځکه چې زموږ د الوتکې له لوېدو مخکې دېر اوږد سفر نه وو شوی."

انس ورو ویل:

"زه نه پوهېږم چې څه وکړو، خو داسې ښکاري چې ستا خبره باید ومنو."

راج د انس پر اوږه لاس ټپ کړ او وویل:

"زویه! بګوان، خدای، به زموږ سره مرسته وکړي. سبا باید د کښتۍ جوړولو کار پیل کړو."

انس وویل:

"ولې یې همدا اوس پیل نه کړو؟"

راج ځواب ورکړ:

ketabton.com - The Digital Library



"اوس تیاره ده، هیڅ نه لیدل کیږي."

بیا دواړه د خلکو خواته لاړل او ټولو ته یې وویل:
"اوس ارام وکړئ، سبا به د کښتۍ جوړولو کار شروع کړو."

ټولو ومنله، خو خلک سخت وږي وو. دوې ورځې شوې وې چې هیڅ یې نه وو خوړلي، یوازې یې اوبه څښلې.

انس له سمندر څخه لږ لرې لاړ، یوې شګلنې غونډۍ ته وخوت، سر یې پرې کېښود، اسمان ته یې کتل. ستوري سترګې ور وهنې. په ژور فکر کې ډوب و. همدلته لمونځ هم ادا کړ.

شپه ورو ورو تېرېده...

## • څلورمه ورځ

ketabton.com - The Digital Library



د سهار د لمر ځرک لا نه و ښکاره شوی، چې راج د انس پښنه په پښنه ووهله او له خوبه یې را ویښ کړ.

انس د شپې ښه ارامه خوب کړی و، خو دلته هوا ډېره سړه وه او د ځان ژغورنې لپاره یې هېڅ امکانات نه درلودل. لومړی یې اوبه راواخیستې، اودس یې وکړ، او د سهار د لمانځه لپاره ودرېد.

راج له لرې د انس ننداره کوله چې هغه په عبادت بوخت و. کله چې انس له لمونځه خلاص شو، د راج پر لور په بیړه ورغی. راج تر دې دمه ډېر خلک او ځوانان دې کار ته چمتو کړي وو.

انس له مسکا سره:

— راجه، ایا د میخونو غم دې هم وخوړ؟

راج د لرګیو څو ټوټې په لاس کې نیولې وې، سترګې یې رڼې کړې او ویې ویل:

ketabton.com - The Digital Library



ـــ هو، ما ټوله شپه په همدې فکرونو کې تیره کړه چې څنګه به بې له میخونو کښتۍ جوړه کړو. بلاخره دې پایلې ته ورسېدم. دا وګوره، دا څنګه ده؟

راج یوه د لرګیو ټوټه ور وښوده چې درې نورې ټوټې ورسره کلکې نښلول شوې وې.

انس حیران شو:

ـــ دا څنګه؟ بې له دې چې میخونه پکې ټکول شوي وي، دومره کلکې سره نښتي؟

راج موسکی شو او توضیح یې ورکړه:

ـــ ما د خپل عقل او تجربې پر بنسټ داسې طریقه جوړه کړې ده. د هر لرګي سر مې د نېزې په شان تېر کړی، او د مقابل لوري لرګي کې مې داسې سوری جوړ کړی چې دا تېره شوې برخه پکې کلکه کېني. نو لرګي یو له بله نه جلا کیږي.

ketabton.com - The Digital Library



انس:

—— واو راجه! تا خو واقعاً ډېر زحمت ایستلی. دا طریقه خو ډېره ښه ده، خو دا وایه، موږ به له دې وړوکو لرګیو نه څنګه دومره لویه کښتۍ جوړه کړو؟ او څنګه به دا کار ژر ژر خلاص کړو؟

راج له هیلې ډکه لهجه کې وویل:

—— کار لږ سخت دی، خو موږ ډېر خلک یو. باید هر څوک د ځان د ژغورلو لپاره کار ته متې راونغاړي. هېڅوک باید له کاره شاته پاتې نشي.

ټولو، که هلکان وو او که نجونې، په ګډه د کښتۍ جوړولو کار پیل کړ. راج لارښوونه کوله، نور کار کاوه.

تر څاښت پورې د کښتۍ ځینې برخې جوړې شوې وې، خو خلک نور د کار کولو توان نه درلود، ځکه ټول وږي وو او په بدن کې یې انرژي نه وه پاتې.

ketabton.com - The Digital Library



خو د متل خبره ده، "د دنیا کار په امید روان دی". هغوی هم خپلې هیلې نه پرېښودې او کوښښ یې کاوه چې کار بشپړ کړي. ټول لکه مېږیان د سیند غاړې ته منډې وهلې، لرګي یې له سینده را ایستل.

یو کس حیران شو:

— دا لرګي نو دلته څنګه راغلي دي؟

بل کس ځواب ورکړ:

— ما څو ورځې مخکې په انټرنټ کې لوستي وو چې د بنګله دېش یوه لویه بېړۍ ډوبه شوې ده، ښایي دا لرګي هم د هماغې بېړۍ پاتې شوني وي.

کار ډېر چټک روان و. د غرمې لمر ښه ګرم و او د دوی د شپې یخ بیخي هېر شوې وو.

ketabton.com - The Digital Library



زهرا د خپل ورور نصيب او امير ترخنګ ناسته وه. نصيب عمر کې کوچنی و، شاوخوا پنځلس کلن، خو د ده کارونه د پنځوس کلن سړي په څېر وو. هغه ناست وه، فکر کې ډوب و، بيا يې زهرا ته وويل:

— خوري!

زهرا:

— وايه ورور جانه، څه دي؟

نصيب:

— ته ولې له اميره بدېږې؟ ولې له هغه لرې ګرځې؟ حال دا چې هغه ستا کوژدن دی او ستاسو واده هم ډېر نږدې دی.

زهرا حيرانه شوه:

— ولې داسې پوښتنه کوې؟ هو، امير زما کوژدن دی، خو ته هم خبر يې چې پلار مې ژوندی و، زه يې زما له اجازې پرته کوژده کړې وم. اوس چې بابا نشته، زه دا خپلوي نه قبلوم او

ketabton.com - The Digital Library



نه هم ارزښت ورته ورکوم. ته دا خبرې مهرباني وکړه، د امیر یا انس په مخکې مه کوه.

نصیب:

— انس څوک دی؟

زهرا ناڅاپه ساکته شوه، د خبرو سلسله یې ورکه شوه، بیا یې ورو وویل:

— هغه زما ملګری دی، ته یې نه پېژنې.

نصیب خپله خور په غیږ کې ونیوله او پر مخ یې ښکل کړه.

په همدې حال کې امیر له لرې ښکاره شو. څه یې په لاس کې پټ نیولي وو، داسې چې له ټولو یې پټول. هغه د زهرا او نصیب لور ته راغی او د زهرا ترڅنګ ډېر تنګ کېناست. ورو یې وویل:

— دا واخلئ، تاسې دواړه یې وخورئ.

ketabton.com - The Digital Library



زهرا کتل، امیر په لاس کې پاکټونه نیولي وو چې "حلال" پرې لیکلي وو.

زهرا:

ـــ دا څه دي؟ له کومه دې راوړي؟

امیر:

ـــ دا مې د سیند غاړې ته د لرګیو تر منځ پیدا کړل. ښایي دا د هماغې غرقېدلې بېړۍ د مسافرو خواړه وي. خو اوس خدای موږ ته راکړل. دا واخلئ، پټه یې وخورئ، خو پام وکړئ چې نور خلک مو ونه ویني.

زهرا هم په بیړه پاکټونه واخیستل او ځینې یې خپل ورور نصیب ته ورکړل. امیر بیا د ښکنتي لور ته لاړ.

ketabton.com - The Digital Library



زهرا پاکټونه خلاص کړل. په ځینو کې بریاني وریجې وې او ځینې کې نور خوراکي توکي، خو ډېری یې خراب شوي وو. ټول اوبو وهلي وو او خپل کیفیت یې له لاسه ورکړی و. زهرا لږ څه ترې وخوړل او ځینې پاکټونه یې پټ په بغل کې واخیستل او د انس په لور روانه شوه.

انس د لرې پر یوه ډبره ناست و. جمیل هم ورسره و. دواړه یو د بل سره خندل او د لرګیو تراشل یې کول. زهرا یوې او بلې خوا ته وکتل، لکه غله چې غلا کوي، بیا یې په چټکو قدمونو ورغله. لومړی یې سلام وکړ. هغوی دواړو په حیرانتیا ورته وکتل. زهرا چې مخکې یې مخ د حجاب تر شا پټ کړی و، اوس یې حجاب له مخه لرې کړ او انس ته یې نېغ سترګو کې وکتل. انس خپل نظر بل لور ته کړ، لکه له دې چې شرمېده.

زهرا په ګیله منده لهجه وویل: "د سلام جواب خو راکه!"

ketabton.com - The Digital Library



انس سا وکړه او د سیند خوا ته یې وکتل. ورو یې وویل: "ته اوس څه غواړې؟ ما خو تا ته ویلي وو چې د خپل خاوند سره اوسه."

زهرا د هغه څنګ ته کیناستله، له څه ویلو پرته یې پاکټونه جمیل ته ورکړل. جمیل ورڅخه واخیستل او ویې پوښتل: "دا څه دي؟"

زهرا، چې انس ته یې کتل، جمیل ته وویل: "دا خوراکي شیان دي. پوښتنه مه کوه چې له کومه مې راوړي. بس ته او ښاغلي انس یې وخورئ... او..." هغې خبره نیمه پرې کړه.

انس د هغې خوا ته مخ واړاوه او ویې ویل: "او څه؟"

زهرا ورو وویل: "پرېږده، یوه ورځ به پوه شې."

زهرا بیرته شا ته ولاړه، غوښتل خپل پخواني ځای ته لاړه شي، خو انس ژر د هغې لاس ونیولو او ځان ته یې کش کړه.

ketabton.com - The Digital Library



ویل یې: "غوره انجلۍ، ستا خاوند ډېر بد مزاجه سړی دی. نه غواړم چې د هغه سره په لانجه کې شم، سمه ده؟"

زهرا خپل لاس په غوسه کش کړ، سترګې یې نورې هم غټې شوې، خوله یې د خبرو لپاره خلاصه کړه، خو بیا یې چوپتیا غوره کړه او روانه شوه. انس ورپسې کتل. زهرا د تیز قدمونو سره لومړی شاته وکتل، بیا یې خپل حجاب بیرته پر مخ تاو کړ او لاړه.

انس پر ډېره ولاړ و. تر هغې یې کتل څو چې زهرا د ډېرینو قمرونو شاته پټه شوه. بیا په غوسه کیناست او د لاس لرګی یې پر ځمکه وغورځاوه.

جمیل، چې پاکټونه خلاص کړل، خوراکي شیان ترې واخیستل، ځینې یې انس ته ورکړل او ځینې یې پخپله وخوړل. خوله یې ډکه وه، خو بیا یې وویل: "ښاغلي انسه! ته ولې دا انجلي دومره زوري؟ که زه ستا په ځای وای، همدلته به مې ورسره واده کړی وای."

ketabton.com - The Digital Library



انس خندا وکړه: "توبه خدایه! ته بیا هم شروع سوې؟ هلکه دا ځای د داسې کارونو نه دی. ته نه وینې چې هغه خپل خاوند لري؟ نه شرمیږې، د بل مېرمنې پسې ګورې؟"

جمیل، خوله ډکه، ورو وویل: "راځه چې رښتیا درته ووایم، د بل مېرمنې خوند د خپلې مېرمنې نه زیات وي. که باور نه لرې، ته یې یو ځل په لمنه وګوره! ولا خو دا زړه مې غواړي چې دلته ځان د دې لپاره قربان کړم!"

انس جدي شو: "جمیله! حد لري. پام کوه، کومه تېروتنه ونه کړې. ستونزې مو لا زیاتې دي، ته نورې جوړې نه کړې."

جمیل موسک شو: "نه ښاغلي انسه! دا وارې به یا ته ورسره نکاح کوې یا زه نه پرېږدم."

انس حیران شو، بیا یې له زوره وخندل. جمیل هم ورسره وخندل.

ketabton.com - The Digital Library



همدا وخت راج راغی او ویې ویل: "هلکانو! ځنګه شو؟ د کښتي لږه برخه پاتې ده، نوره چمتو ده."

انس، جمیل او راج درې واړه لرګي واخیستل او د کښتي پاتې برخه یې جوړه کړه، خو کښتي وړه وه، ټول خلک پکې نه ځایېدل. باید نیم خلک پکې سپاره وای.

دلته اختلافات پیدا شول. هر کس غوښتل چې کښتي ته وخېژي او نور پاتې شي.

راج په لوړ آواز وویل: "صبر وکړئ! دا باید په ګډه پرېکړه وکړو!"

په پای کې دا پرېکړه وشوه چې ځوانان به پاتې کیږي او زړې ښځې به کښتي ته خېژي. انس، امیر او جمیل ټول له کښتۍ پاتې شول.

ketabton.com - The Digital Library



دوی د ځانونو ژغورلو لپاره داسې پلان جوړ کړ چې کوچنې لرګي يې سره وتړل، سورۍ يې پکې وکړل او رسۍ يې پرې وتړلې. بيا يې د کښتۍ شاته پورې تړلې، لکه يوې کوچنۍ کښتۍ ته چې ورته وي.

انس او جميل دواړه پر يوه لرګي کښېناستل.

مازيګر و. لمر داسې ښکاره کېده، لکه چې ځان د سيند لور ته غورځوي.

ټول کسان کښتۍ ته وختل. شاته لرګي هم تړل شوي وو.

زهرا د کښتۍ په ځنډه ولاړه، انس ته يې له لرې کتل. زړه يې غوښتل چې انس هم کښتۍ ته وخېژي، خو دا فکر بېځايه و. د ناستو ځای نه و، ټول ولاړ وو. پنځلس کسان په کښتۍ کې وو او نور لس کسان پر لرګي سپاره وو.

ketabton.com - The Digital Library



حرکت پيل شو. کښتي يې د چوبکۍ په وهلو سره سيند ته داخله کړه. کښتي مخ پر وړاندې روانه وه، شاته يې ترړلي لرګي هم روان وو.

د سيند منځ ته په خير ورسيدل. خو دلته اوبه ژورې وې، ځپې تېزې وې او خطر زيات و.

ځينو له واره چيغې کړې. بوډا هندو په غوسه وويل: "چيغې مه وهئ! خلک به خپل حواس له لاسه ورکړي او ډوب به مړه شو! همت وکړئ، همت!"

جميل چې د انس سره په لرګي و، وويل: "ښاغلي انسه! تا کله هم فکر کړی و چې د داسې حالت سره به مخ شو؟"

ketabton.com - The Digital Library



انس، "یا ولا، هیڅ نه پوهیږم چې دا هر څه ولې داسې شول. ته هغه عرب ته وګوره، څنګه دعاګانې کوي!"

جمیل د هغه د خبرو په تعجب سره ورته وکتل. عرب سړی په کښتی کې ولاړ و، لاسونه یې پورته نیولي وو، سترګې یې پټې کړې وې او د "یا الله، یا الله" نارې یې وهلې.

انس وویل: "دا خلک همدلته الله یادوي، خو هغه وخت یې نه و یاد چې د دوبۍ یا نورو عربي هېوادونو په رستورانونو او نایټ کلپونو کې به یې ډول ډول مزې، شرابونه او نور ناروا کارونه کول. اوس چې مرګ ته نږدې شوي، ماغزه‌یې سر ته راغلل."

جمیل د حیرانتیا نه وخندل.

لمر ډوب شو. د سمندر په شنو اوبو کې تیاره خپره شوه. طوفان لا زورور شو، کښتۍ چپه و چپه کېدله، خلکو چیغې وهلې. بوډا هندو حېران ولاړ و، خبره یې له خولې نه وتله.

ketabton.com - The Digital Library



زهرا خپل ورور نصیب ټینګ په غیږ کې نیولی و. ویښتان یې د باد له زور څخه یوې او بلې خواته اړېدل. هغه یوازې انس ته کتل، سترګو کې یې اوښکې ډنډ وې، خو هېڅ یې نه ویل. یوازې یې انس ته کتل.

باد ډېر سخت و. هغه کسان چې په لرګیو باندې وو، هغوی هم یوې بلې خواته روان شول. د ځینو رسۍ وشکېدې او ځینې د کښتۍ له کړېدو سره سم اوبو ته ولوېدل. ځینې نورو خپل ځانونه کلک نیولي وو.

زهرا چیغې وهلې: "انسه، انسه! کښتۍ ته راشه!"

انس هڅه کوله هم ځان وساتي او هم جمیل. ناڅاپه یې د لرګي له یوه سر نه لاسونه خلاص شول او اوبو ته ولوېد.

جمیل سمدلاسه هڅه وکړه چې انس له اوبو وباسي، خو هېڅ فایده یې ونه کړه. کښتۍ مخته لاړه، انس شاته پاتې شو.

ketabton.com - The Digital Library



جمیل ځان هم بې اختیاره اوبو ته وغورځاوه او د لامبو وهلو په مهارت سره انس ته ورسېد. انس یې له شا ونیو او د یوه لاس په لامبو وهلو سره یې ځان کښتۍ ته راکاږه.

زهرا په لوړ غږ ژړل، چیغې یې وهلې: "انس! انس!"

هغې د کښتۍ له خلکو مرسته وغوښته، خو هیڅ چا ورسره ملګري نه شول. هر څوک د خپل ځان په غم و.

یوازې جمیل و چې خپل ځان یې د مرګ له خطر سره مخ کړ، انس یې له اوبو پورته کړ.

په همدې وخت کې امیر ور ته خپل اوږد څادر وغځاوه. جمیل څادر ونیو، دواړه د کښتۍ څنګ ته راورسېدل.

انس ټوخی کاوه، اوبه یې تېرې کړې وې. لږ وروسته ښه شو. امیر ته یې لاس ورکړ، مننه یې وکړه: "زما وروره، تا زموږ سره مرسته وکړه."

ketabton.com - The Digital Library



امیر هم لاس اوږد کړ چې د انس لاس کلک ونیسي. ناڅاپه یو لوی ماهي له اوبو را ټوپ کړ او امیر یې له ځان سره اوبو ته کش کړ.

امیر یوه لویه چیغه وکړه، او ورک سو. ټول حیران شول: "دا بیا څه وسوه؟"

بل ماهي پر کښتۍ برید وکړ، دوه درې کسان یې له ځان سره واخیستل. هر څه ګډوډ شول.

ماهیان یو نه وو. له هرې خوا بریدونه کېدل. په هر برید کې یو یا دوه کسان له ځان سره وړل.

کښتۍ سختې لوړې ژورې خوړلې. اوبه یې دننه شوې. د سمندر اوبه د وینې په شان سره ښکاره کېدې.

ketabton.com - The Digital Library



ماهیان چې آرام شول، هغه خلک چې له لرګیو نیولي وو، ژر ځانونه کښتۍ ته راکش کړل.

زهرا له لرې اوبو ته کتل، د خپل برخلیک په دعا کې لاسونه پورته کړي وو. د هغې ترڅنګ یوه بله زړه بښځه ولاړه وه چې د خاوند او اولاد له لاسه ورکولو باندې ژړل.

ټول غلي ولاړ وو. هیچا شکایت نه کاوه. یوازې د خپل نصیب او تقدیر ګیله یې لرله.

کله چې انس بېرته کښتۍ ته وخوت، زهرا هغه ټینګ په غیږ کې ونیوه او ژړل یې: "د خدای شکر چې ته روغ رمټ یې."

انس هم زهرا ته ډاډ ورکاوه، او د امیر وژل کېدل یې ورسره شریک کړل. خو زهرا یوازې د انس لپاره ژړل، د امیر مرګ ته دومره خفه نه وه.

ketabton.com - The Digital Library



جمیل هم لوند او یخ ولاړ و، زامې یې سره لړزېدل. انس اطراف ته وکتل، هغه چاغ عرب یې نه تر سترګو کېده. پوښتنه یې وکړه: "هغه شیخ څه شو؟" ورته وویل شول: "هغه هم یوه ماهي له ځان سره بوت."

انس جمیل ته وویل: "تا ولیدل چې څوک د الله سره ریښتینې اړیکه ولري، هغه ژغورل کیږي. خو هغه خلک چې یوازې د ضرورت پر وخت الله یادوي، دا یې حال دی."

زهرا د انس له غیږې خلاصه شوه او آرامه په یوه کونج کې کیناسته، فکرونو کې ډوبه وه.

انس او جمیل ورته ولاړ وو، نصیب انس ته وویل: "زما خور ته پام کوه. هغې ستا لپاره دومره وژړل چې د خپل پلار لپاره یې هم داسې نه وو ژړلي."

ketabton.com - The Digital Library



انس یوه ترخه موسکا وکړه، خو هېڅ یې ونه ویل. جمیل ورته وویل: "هلکه دا مینه ده! مینه انسان یا بربادوي، یا داسې ابادوي چې خپل ځان او نور جهان هم هېر کړي."

انس وویل: "جمیله، دا څه چټیات وایې؟ نه ګورې هغه په څه حال کې ده؟ ته اوس د مینې خبرې مه کوه، که نه..."

دلته راج خبره پرې وکړه: "د ستورو د حرکت له مخې وایم چې موږ وچې ته نږدې شوي یو. لږه لاره پاتې ده. استقامت وکړئ، بګوان به موږ تر منزل ورسوي."

جمیل په قهر د راج خواته وکتل او ورو یې په پښتو وویل: "دا د بګوان زوی وګوره! لکه چې زموږ لارښود دی! که بګوان دومره زور درلودای، نو دا طوفان به یې د راج له سره لیري کړی وای."

ketabton.com - The Digital Library



انس وخندل: "جمیله، دا څه وایې؟ د بل کس په دین ملنډې مه وهه. که هغوی ستا خبرې واورې، هغوی به هم زموږ دین ته ملنډې ووهي. دا ښه کار نه دی."

جمیل وخندل: "سمه ده ښاغلي! ته خو ما هر وخت ملامت ګڼې. دا حساب به یوه ورځ درسره خلاصوم!" دواړو وخندل.

دا خونړۍ او له وحشته ډکه شپه هم ورو ورو تېرېدله. هر کس نوې هیلې او امیدونه درلودل چې سبا به څه ورسره کیږي.

سپوږمۍ د آسمان په منځ کې ولاړه وه. یو ډول روحاني سکون او اطمینان یې خپور کړی و.

خو د هر چا په زړه کې لا هم د وېرې لمبې بلې وې، که څه هم هېچا یې د اظهار جرات نه درلود.

ketabton.com - The Digital Library



شپه روانه وه.

## • پنځمه ورځ

د سهار سپېده سر رابنکاره کړه. د لمر وړانګې د خړو وریځو تر شا داسې ښکارېدې لکه د وینو سور رنګ.

انس، جمیل، او زهرا ټول یو ځای په کښتۍ کې ویده وو. نصیب د انس په زنګون نرم لاس کېښود، ورو یې وویل: "انسه، پاڅه."

انس ورو سترګې خلاصې کړې. شاوخوا ځینې خلک لا هم ویده وو او ځینې حېرانه، د تعجب نه یې سترګې غټې خلاصې وې.

انس ژر راپاڅېد. څلور خواوې یې وکتلې. یوازې سمندر وو. هرې خواته اوبه وې، بله هېڅ نښه نه وه.

ketabton.com - The Digital Library



انس سترګې راوختې، وارخطا د راج خواته ولاړ.

"راج! راج!"

راج د کښتۍ په مخ کې ناست و، لرګی یې په اوبو کې وهه چې کښتۍ روانه وساتي. نا امیده یې انس ته وکتل:

"زویه، راغلې؟"

انس وویل: "هو راغلم. راج، موږ چیرې یو؟ تا ویل چې وچې ته ډېر نږدې یو. دلته خو یوازې اوبه دي!"

راج سر ښکته کړ، ژور نفس یې واخیست. "نه پوهېږم. خلکو ته به څه ځواب ورکړم؟ زما په تجربه ما ویل چې وچه نږدې ده... خو داسې نه شو. اوس زه څه وکړم؟" بیا یې په تندي لاس ولګاوه، سخت یې ځان ملامت کاوه.

انس ورته وویل: "کاکا، دلته هېڅوک ملامت نه دي. که دوی بله لار پېژندله، ضرور به یې ویلی وه. دا کار چې موږ وکړ،

ketabton.com - The Digital Library



سم و. که به وژل کېدو، ټول به وژل کېدو. یوازې دوی نه. تا اوس هم د ټولو لپاره هر څه کړې دي. دا چې تا خطا کړې، دا کومه خبره نه ده. دا د الله خوښه وه چې همداسې وشي."

راج سر لا هم ښکته نیولی و، فکرونو کې ډوب و. انس له هغه څخه لرې شو، بېرته زهرا، جمیل او نصیب ته راغی. درېواړه ناست وو.

د جمیل تندی د پخوا نه هم زیات ګونځن شوی و. هېڅ یې نه ویل، داسې ښکارېده لکه خپه وي.

انس ورته کیناست، موسک شو، ویل: "څنګه یاست؟ شپه مو ښه تېره شوه؟"

له ټولو نه مخکې زهرا وویله: "هو، مننه، ستا هم شپه پخیر سوه ؟."

ketabton.com - The Digital Library



انس ځواب ورنه کړ، جميل ته يې وکتل.
"بيا ولې ستا تندی ځمکې ته ټيټ دی؟"

د انس په دې خبره ټولو وخندل.

جميل وويل: "نه... بس، د پخوا وختونه مې راياد شول."

انس وخندل: "ششه! څه فکر دې کوه؟"

جميل وويل: "هغه ورځ مې ياده شوه چې ته زموږ دفتر ته راغلی وې... څومره رعب دې درلود! ټول کارکوونکي به در نه وېريدل. اوس وګوره، زه او ته لکه ملګري، يو ځای يو."

انس موسکی شو: "جميله، زما هېڅکله نه غوښتل چې څوک زما نه ووېرېږي. زه يوازې لږ جدي وم، خبرې مې کمې کولې. که څوک غواړي چې د خلکو په زړونو کې هيبت ولري، نو بايد خبرې کمې کړي او هر چا ته د ارزښت لوړ

ketabton.com - The Digital Library



قیمت ورنه کړي، ځکه دا د ځان د ارزښت کمولو سبب کېږي. خیر، اوس خو زه او ته ملګري یو، لکه دوه لاسونه چې د یوې موخې لپاره کار کوي."

جمیل د خوشحالۍ نه وخندل، انس یې په غېږ کې ونیولو.

په همدې وخت کې نصیب خپلې خور زهرا ته اشاره وکړه چې څه ورته ووایي.

هغوی چې ورته وکتل، د زهرا له سترګو اوښکې بهېدلې.

جمیل وارخطا شو: "څه شوي دي زهرا؟ بیا ولې ژاړې؟"

زهرا ورو وویل: "هیڅ نه. یوازې مې خپل پلار رایاد شو... زړه مې لږ راته ډک شو... دا ځنګه یواځې پاتې شوم."

ketabton.com - The Digital Library



جمیل د انس لاس د هغې پر اوږه کېښود، په خواخوږۍ یې وویل: "ته یواځې نه یې. ستا سره انس دی، ستا ساتونکی دی، ستا خادم دی."

انس ناڅاپه خپل لاس ژر کش کړ، موسک شو: "جمیله! ته څه کوې ها؟"

جمیل وخندل.

هماغه وخت د چا غږ شو: "هلئ کښتۍ تم کړئ، مرسته وکړئ!"

ټولو د هغه کس خواته وکتل. دا راج و چې غږ یې کړی و. انس ژر کښتۍ ودروله.

انس هم بیړه وکړه، چاته یې لرګی ورکړ او د کښتۍ په درولو یې پیل وکړ. ټولو هڅه کوله چې کښتۍ ودروي. مخکې یو ټاپو ښکاره شو، هلته ټول تم شول. کښتۍ یې ودروه او په رسۍ یې وتړله چې نه لاړه شي.

ketabton.com - The Digital Library



ټاپو ته ورو ورو راښکته شول. يو تن وويل: "موږ ولې دلته راغلو؟ بايد وچې ته ځانونه ورسوو."

راج ځواب ورکړ: "ځکه چې دلته لږ خوندي يو، باران کېدونکی دی. وريځې په چټکۍ زموږ خوا ته را روانې دي. خو دلته ونې شته، شايد د طوفان څخه خوندي شو."

خو هغه کس ورته غوسه شو، ويې ويل: "تا خو مخکې هم ويل چې وچې رسيدو ته نږدې يو، نو ولې ونه لاړو؟ ته دروغجن يې، ته ټګ يې، بی عقله هندوستانيه!"

راج ژر ورته په غوسه وويل: "زه که بی عقله يم که نه، خو ته ولې ټول هندوستانيان يادوې؟ ته پاکستانی يې که څنګه؟"

هغه کس وخندل: "هو، زه د ښکلي او پراخ پاکستان يم."

جميل نور صبر ونه کړ. له ځايه راپورته شو او هغه کس ته يې سوک ورکړ. د هغه په مټ او اوږه يې غاښونه ولګول، خو هغه کس هم جميل ته سوکان ورکاوه. جميل بيا هم نه پرېښود، ښه ټينګ غاښونه يي پري ولګول.

ټول ورغلل چې دواړه جدا کړي. کله چې هغوی جلا کړل، د جميل خوله له وينو ډکه وه.

ketabton.com - The Digital Library



انس په حيرت وپوښتل: "دا ته يي په سوک وهلي يي که ځنګه؟"

جميل وخندل: "نه، دا د ده وينې دي، داخو مې غاښونه ورته لګولي دي، !"

انس ته ډېره خندا ورغله، خو ځان يې کابو کړ، ځکه پوهېده جميل اوس هم جدي غوسه دی.

جميل، انس، زهرا، نصيب او نور څو کسان سره يو ځای شول. جميل ورو ورو ورته وويل: "پاکستانيان لا د افغانانو زور نه دی ليدلی. اوس مې ژوندي خوړل، خو بخت يې ښه و."

لږ وروسته وريځې ولاړې او باران هم ونه شو. د راج اتکل خطا شو. يواځې تندر او برېښنا وه. ټول د ونو او شاخو لاندې پټ شول.

زهرا د وېرې نه انس ته ورنږدې شوه، غوښتل يې انس غېږ کې ونيسي، خو انس ځان ترې ليرې کړ او ځان يې ګوښه کړ.

ketabton.com - The Digital Library



ټول غلي ناست وو، يو بل ته يې بې له خبرو کتل.

ناڅاپه يو دروند غږ شو. تندر شو، او ونې ځينې راچپه شوې. برېښنا وه چې ځمکې ته ولوېده او هممهاله اور بل شو. اور ونو ته خپور شو. يوه ونه لاندې يو کس هم و، چې همالته وسوځېد او مړ شو. خو دا خبره نورو ته عادي ښکاره شوه؛ ځکه دا وروستيو کې داسې مرګونه هره ورځ کېدل.

راج خپل زيرکتيا وکاروله: "هلئ هلکانو، اوس چې اور شته، کبان ونيسئ او ښه کباب يې کړئ. خواړه به مو شي!"

دا خبره چې واورېدل، ټول پاڅېدل. ويره او تندر يې هېر کړل. هر يو هڅه کوله چې ډېر کبان ونيسي.

څو شيبې وروسته، جميل يو غټ ماهی نيولی و. ژر يې انس ته نارې وکړې: "ښاغلي انسه، ښاغلي انسه!"

انس چې ورغی، جميل ماهی له لکۍ نيولی و، او ماهی سمندر ته زورونه ورکول – ژوندی و.

ketabton.com - The Digital Library



انس ژر د یوې ونې څانګه ماته کړه او څو ځله یې ماهی پر سر وواهه، تر څو بې هوشه شو. ماهی یې په دوه کسانو راپورته کړ او درې ځله یې پر ځمکه وویشت، تر څو یې حلال کړي.

بیره یې وکړه، ماهی یې د ونو اور ته یووړ. ځینې برخې یې خامې پاتې شوې، ځینې وسوځېدې، ځکه د پخلي وسایل نه وو.

خو خیر، تر غرمې پورې ټولو خواړه وخوړل. خېټې یې مړې شوې. نور هم د ماهیانو غوښې یې له ځان سره واخیستې او بیا کښتۍ ته پورته شول.

مازدیګر شو، له لرې وچه ځمکه ښکاره شوه. ټول له خوشحالۍ نه ټوپونه وهل.

وچه ته چې ورسېدل، ولیدل چې دا یوه پراخه دښته ده؛ نه کلي شته، نه کورونه. لمر هم ورو ورو د سمندر پر لور ډوبېده، او د شپې تیاره خپره شوه.

ketabton.com - The Digital Library



په شپه کې هم روان وو، ځکه ټولو اوس ښه انرژي ترلاسه کړې وه.

زهرا د انس ترڅنګ روانه وه. ورو يې وپوښتل: "ايا موږ به خپل هېواد ته ژوندي ورسېږو؟"

انس وخندل: "هو، ولې نه، ته کوم شک لرې؟"

زهرا ساه واخيسته. په مات زړه يې د انس لاس ورو ونيو، سر يې د انس اوږه کېښود. ورو يې وويل: "شک لرم، خو که ته راسره وې، نو زه هيڅ وېره نه لرم."

انس غلی شو. نه يې ويل چې له اوږې مې ځان لرې کړه، او نه دا چې لاس مې خوشی کړه. داسې ښکارېده چې دوی د مينې منځنی پړاو ته رسيدلي دي.

انس د اوږدې چوپتيا وروسته وپوښتل: "تاڅومره زده کړې کړې؟"

زهرا ځواب ورکړ: "زه اوس په يولسم ټولګي کې وم."

ketabton.com - The Digital Library



انس بیا وپوښتل: "ستا عمر څو دی؟"

زهرا: "زه دوه میاشتې مخکې اولس کلنه شوې یم. زما ورور پنځلس کلن دی."

"ته څو کلن یې انس؟"

انس: "زه تقریباً پنځه ویشت کلن یم. له همدې امله ستا څخه لږ لرې پاتې وم، ځکه زما او ستا عمر کې فرق شته. ښه دا ده چې خلک د خپل همزولو سره ژوند وکړي."

زهرا وخندل: "د یوې نجلۍ لپاره خاوند همزولي نه دی شرط. عقل، وجدان، احساس او د دواړو خوښه مهمه ده. امیر زما همزولی و، خو ما هغه خوښ نه درلودي، ځکه هغه بې غیرته او بې احساسه انسان و. خو دلته یو څوک شته، چې زه د زړه له کومي هغه خوښوم..."

خو دا یې نه شوای ویلی، ځکه د پښتنو رواجونه او حیا دا اجازه نه ورکوله.

انس هم پوه شو چې د چا خبره کوي.

ketabton.com - The Digital Library



راج غږ کړ: "که ستاسو خوښه وي، همدلته شپه تېروو. د هوا درجه ښه ده او خطر کم ښکاري."

ټولو سره موافقه وکړه.

زهرا د انس له اوږې سر لرې کړ، لاس يې خوشې کړ. نصيب او جميل د دوی تر شا روان وو او خپلو کې خبرې يې کولې.

زهرا د خپل ورور نصيب خواته لاړه او ورسره يې خبرې وکړې.

انس ورته وويل: "زه هلته ويده کېږم." يو ځای يې وښود. "که څه ستونزه وي، موږ ته ووايه."

زهرا سر وخوځاوه. انس ولاړ، خو بيا بيرته راوګرځېد. په شرمېدلي لهجه يې وويل، سترګې يې ځمکې ته ټيټې کړې: "که تاسو دواړه – ته او نصيب – هم زموږ ترڅنګ ويده شئ، ستونزه نه شته."

ketabton.com - The Digital Library



انس لاړ، د جمیل ترڅنګ کیناست. دواړو مجلس کاوه، خو دواړه ژر ویده شول.

لږ وخت وروسته انس خپلې سترګې خلاصې کړې. څنګه یې چې کتل، زهرا یې څنګ ته پرته وه. هغه تر اوسه نه وه ویده شوې. اسمان ته یې کتل . لاسونه یې پر سینه ایښې وو، ساه یې ورو، خو ژوره روانه وه، لکه د زړه په تل کې چې کومه نابلده ویره یا امېد پټ وي.

انس ورو وویل: "چې نور یې وانه ورې... مننه چې زما خبره دې ومنله."

زهرا د هغه خبرې ته ځواب ورنکړ. یوازې یې ورو وویل: "وګوره... اسمان څومره ښکلی دی! کهکشانونه، رڼاګانې... د الله د قدرت یوه عجیبه منظره ده."

انس هم ورو وویل: "هو... ډېر ښکلی دی..."

ketabton.com - The Digital Library



هغه ورو د زهرا پر لاس خپل لاس کېښود. زهرا د ده خواته وکتل. د انس ساه چټکه شوې وه. سترګې یې ځلېدې. خو څه یې نه ویل. لکه د زړه خبره چې پر ژبه نه راځي.

زهرا لږ واوښته، مخ یې پوره د انس خوا ته کړ. څه شیبه دواړه یو بل ته غلي کتل، لکه د کلونو انتظار چې همدا شېبه وه، چې یوازې د یو بل سترګو ته وګوري.

زهرا ورو خپل کیڼ لاس پورته کړ، د انس سترګې یې پټې کړې، په شوخ انداز یې وویل: "ښاغلی انس... ویده شه! سهار بله اوږده لار ده. ستړیاوې دي. خوب پوره کړه."

انس له بندو سترګو سره موسک شو: "سمه ده... ستا آمر په سر سترګو."

ketabton.com - The Digital Library



دواړه ورو ورو وخندل. خو هغه خندا هم د فکرونو د ژورو سمندرونو نه راپورته شوې وه. لکه چې هر یو د خپل زړه دننه د مینې بې غږه خبرې کولې.

شپه ورو ورو تېره شوه... ستوري وځلېدل... کهکشانونه وځرخېدل... او دا نړۍ همداسې خاموشه روانه وه.

## ● شپږمه ورځ

انس د خلکو د شخړو له غږونو سره له خوبه راویښ شو. سترګې یې پرانېستې او له ځان سره یې دا شعر ولوست:

"ستوماني مو لا د شپې وتلې نه وي،

چې مو بل ستړی سهار په انتظار وي."

پاځېد، او د شخړې پر لور روان شو. هلته یې ولیدل چې یو شمېر کسان په راج برید کوي او حالت سخت ګډوډ دی. خلک سره راټول شوي وو، خو دښمن او ملګری نه معلومېدل. هر څوک بل څوک وهه.

ketabton.com - The Digital Library



انس ناڅاپه جمیل ولید چې د یوه چاغ سړي پر نس ناست و، د هغه سترګې یې په ګوتو کاږلې او لوړ غږ یې کاوه:

"رزیله! دا سترګې به دې په ګوتو در وباسم!"

انس منډه کړه او په قهر یې جمیل ته وویل:

"څه کوې لیونیه؟"

هغه چاغ سړی راپاڅېد او انس ته یې سوک ورکړ، د انس له خولې وینې روانې شوې. دا ځل انس هم پر هغه سړي یرغل وکړ، دواړو – انس او جمیل – هغه سړی دومره وواهه چې بې سده شو.

انس خپل ځان پاک کړ، او په تعجب یې وویل:

"دا څه حال دی؟ دا څه پیښه ده؟"

جمیل، چې ساه یې بنده بنده اخیسته، وویل:

ketabton.com - The Digital Library



"ښاغلی انس، دا جګړه له هغه وخته پیل شوه چې د بګوان زوی، راج، ووهل شو."

انس:

"کوم راج؟ هغه بوډا راج چې له موږ سره و؟"

جمیل:

"هو، هماغه! هغه یې ښه سم ووهه!"

انس له قهره سور شین شو، په منډه د راج پر لور روان شو. راج په وینو سور پروت و، پر غاړه یې لاس ایښی و، داسې ښکارېده لکه چا چې ټینګه خفه ورکړې وي.

انس د هغه سر ته کیناست او پوښتنه یې وکړه:

"راج! څه پېښه ده؟"

ketabton.com - The Digital Library



راج هڅه وکړه چې خبرې وکړي، خو ټوخی پرېښود. جمیل ژر اوبه راوړې او د راج خولې ته یې واچولې. جګړه هم پای ته رسېدلې وه، او شېږ تنه مړه پراته وو.

راج ورو وویل:

"زه نه پوهېږم ولې یې زه ووهلم، ښايي د دې لپاره وي چې ما د دوی له نظره ناسمه لار غوره کړې وي... ښايي دا زما د ښو بدل وي..."

ټول خلک د راج شاوخوا راټول شول. مقابل لوری هم د جګړې له امله ټول وژل شوي وو.

یو زوړ سړی وویل:

"راځئ، خپل سفر ته دوام ورکړو. باید ځانونه ورسولو."

ټولو ومنله. خو حالت داسې ګډوډ و چې څوک نه پوهېدل څه وکړي.

ketabton.com - The Digital Library



له لرې یو کلی ښکاره شو. یو کس خوشحاله شو او وویل:
"ژر شئ! ښایي ژر ښار ته ورسېږو."

ټول چټک شول. انس د زهرا تر څنګ روان و. یو کس ورغی او ورته یې وویل:
"راج غواړي تاته څه ووایي."

انس حیران شو، خو ورغی. جمیل هم ورسره و. راج، چې د مرګ او ژوند ترمنځ و، په زوره وویل:
"زویه، دلته راسه..."

غږ یې کمزوری و، خو خبرې یې درنې وې:
"زه په ټول کاروان کې له تا پرته بل زړور کس نه وینم. ښایي زه د لارې تر پایه ونه رسېږم. خو ته باید د دې خلکو مشري وکړې. زویه، که زه مړ شوم، زما مړی وسوځوه، او ایرې

ketabton.com - The Digital Library



مې یوه سیند ته واچوه. دا زما وصیت دی... زما کورنۍ ته هم سلام ورسوه..."

انس غلی و، یوازې یې سر خوځاوه. د راج خبرې یې ژورې په زړه کې کېنولې. لږ مزل وروسته راج خپل وروستی سا ورکړ.

انس ژړل. جمیل حیران و:

"ښاغلی انس! دا خو هندو و، ولې ژاړې؟"

انس، چې سترګې یې له اوښکو ډکې وې، وویل:

"جمیله، موږ ټول انسانان یو. که څه هم هغه مسلمان نه و، خو له موږ سره یې مرسته کوله. د هغه انسانیت ته درناوی پکار دی. هېڅوک باید د چا په مرګ خوشحاله نه شي، ځکه مرګ حق دی."

جمیل:

ketabton.com - The Digital Library



"سمه ده، ربښتیا وایې..."

انس وویل:

"نه، دا به دلته نه ښخوو. باید د هغه وصیت پوره کړو. باید یې وسوځوو."

ټول ورسره ومنل. یو کس وویل:

"نږدې یو کوچنی کور دی، هلته به یې وسوځوو."

جسد یې پورته کړ. کله چې هلته ورسېدل، معلومه شوه چې دا یو هندو بتخانه ده. هلته یو لوي بګوان وو، چې څو لاسونه یې لرل او اوږده شونډه یې درلوده.

ټول حیران ولاړ وو. وږې هم وو. د معبد خوا کې یې د ماهي پاتې شوني چې وه هغه یې وخوړل.

ketabton.com - The Digital Library



ناڅاپه د یو کس د پښو غږ راغی. یو پنډیت راغی. هغه سپین رنګي کرښې په تندي کړې وې او د بت مخ ته یې لاسونه پورته نیولي وو.

انس ورغی، په اردو یې ورته وویل:

"وروره، مهرباني وکړه، موږ مسافران یو، زموږ الوتکه لوېدلې ده، مرسته مو وکړه."

پنډیت وویل:

"تاسې څوک یئ؟ دلته څه کوئ؟"

انس ورته کیسه وکړه. پنډیت وویل:

"دلته پاتې شئ، زه به خپلو خلکو ته خبر ورکړم."

ناڅاپه یې د راج جسد ته پام شو. ویې ویل:

"دا څوک دی؟"

ketabton.com - The Digital Library



انس: «دا کس چې زموږ سره ملګری و، ستا سی د دین پیرو و. نوم یې راج و. هغه هم زموږ سره مسافر و، خو په لاره کې د یوې پیښې له امله مړ شو.»

هغوی راج ته ځیر شول، قمیص یې څیري کړ. د هغه د دواړو اوږو تر منځ یو عجیب نښه وه. پنډیټ وویل: «دا کس زموږ د کلي مشر و، دا هم هغه نښه ده.» بیا یې خپل قمیص پورته کړ، د هغه پر اوږو هم همدا نښه وه. پنډیټ لا هم وویل: «دی زموږ تر ټولو غټ مشر و، د لوی مندر پنډیټ و. زه همدا اوس ځم چې نور خلک خبر کړم.»

انس: «سمه ده، خو دا کوم ځای دی؟ د دې ځای نوم څه دی؟»

پنډیټ: «دا هندوستان دی، بهارت.»

انس: «کوم ایالت؟»

ketabton.com - The Digital Library



پنډیت: «دا د چتیسګړ ایالت دی.»

بیا پنډیت لاړ، هغوی یې همدلته پرېښودل.

ټول حیران وو، خو ځینې له خوشحالۍ ټوپونه وهل. هغوی پوه شول چې نور دا خطرناک او له پېښو ډک سفر پای ته ورسید، هندوستان پسې پاکستان او بیا به افغانستان ته په خیر ورسـي.

د ماښام سپوږمۍ له لرې ځخه ډېره ښایسته برېښېده.

جمیل وویل: «ښاغلی انسه، هغه کس خو لا نه دی راغلی، ماښام شو. اوس به څه کوو؟»

انس: «والله نه پوهېږم، هغه خو ویل چې راځم. دا ځای هم لکه ځنګه چې ما اوریدلي وو، عجیب او جالب دی.»

ketabton.com - The Digital Library



جمیل: «څه دې اوریدلي دي؟»

انس: «دا چتیسګړ ایالت دی، دلته تر اوسه نه تکنالوژي شته او نه تمدن. دا خلک اوس هم د زرګونو کلونو پخوانیو رواجونو تابع دي. موږ باید ژر تر ژره له دې ځایه ووځو، ځکه دلته نه ټېلیفون شته، نه انټرنټ، او نه هم د نورو سره د اړیکې اسانتیاوې شته.»

جمیل: «ممم، سمه ده، ستا خبره پر ځای ده، باید ژر تر ژره ولاړ شو.»

دوی همداسې خبرې کولې چې د آس د ګاډي غږ شو. لږ وروسته یو ګاډی راورسېد، له هغه نه اته یا لس کسان ښکته شول. د ټولو سره نیزې او رسۍ وې. هغه پنډیټ په لوړ غږ وویل: «په ارام ځانونه موږ ته تسلیم کړئ، که نه، وژني مو!»

ketabton.com - The Digital Library



انس: «خو موږ څه نه دي کړي! ولې مو وژنئ؟ تاسو باید زموږ سره مرسته وکړئ.»

هغوی له هر طرفه دوی محاصره کړل. د دوی څخه یو کس د تېښتې هڅه وکړه، خو یو هندو په نیزه وواهه. نیزه یې په نس ورننوتله او له ملاه راووتله. همالته ځای پر ځای مړ شو.

د دغه حالت په لیدو ټول نور هم تسلیم شول.

انس له ځانه سره وویل: «دا څه بلا ده؟ له یوې بلا خلاص شوو، خو بله مخې ته راغله.»

انس بیا وویل: «پنډیټه وروره، موږ څه کړي؟ ولې مو نیسئ؟»

ketabton.com - The Digital Library



په داسې حال کې چې د دوی لاسونه او سترګې تړل کېدې، پنډیټ وویل: «تاسو زموږ مشر، درپنډیټ، وژلی دی. اوس باید د سزا لپاره ځانونه چمتو کړئ!»

جمیل غوسه شو: «ای د رزیل زامنو! نه وینئ چې موږ هغه له ځان سره را وستلی و؟ که چېرې موږ هغه وژلی وای، نو جسد به مو ولې را وړی؟ موږ ستاسو سره هېڅ دښمني نه لرو، او هغه مو په ډېر احترام دلته راوستی دی.»

جمیل خبرې کولې چې دوه کسان پرې راوغورځېدل، یو یې په سوکو وواهه او بل په لغتو. ټول یې د آس ګاډي ته پورته کړل، خولې او سترګې یې کلک ټینګې تړلې وه.

ټول غلي ناست وو، د یو ناڅرګند برخلیک په انتظار.

انس ته د هغه بوډا راج خبرې ور په یاد شوې چې ویلې یې وو: «هیڅکله همت له لاسه مه ورکوه. هره ستونزه یوه لاره لري. ته به هېڅکله هم ماتې نه منې!»

ketabton.com - The Digital Library



شپه ورو ورو تېره شوه. د نړۍ د خلکو لپاره دا شپه لکه د هر وخت په څېر وه، خو د دوی لپاره دا یوه خونړۍ او د وېرو ډکه شپه وه.

## • اوومه ورځ

په همدې شپه کې یې دوی یوه نامعلومه ځای ته راوستل. لاسونه او پښې یې تړل شوې وې، سترګې یې هم پټولې وې، هیڅ شی نه لیدل کېدل. تر سهاره پورې همداسې بند پاتې وو.

کله چې سهار شو، یو کس راغی او پوښتنه یې وکړه: "ستاسو مشر څوک دی؟"

خو هیڅ چا ځواب ورنه کړ، ځکه یو خو د ډېرو اردو نه وه زده، او بل ټولو خولې تړلې وې.

ketabton.com - The Digital Library



هغه کس د يو تن خوله خلاصه کړه او ورته ويې ويل: "د کوم ځای يې؟"

هغه وويل: "زه د پاکستان يم. ولې؟"

"ستاسو مشر څوک دی؟"

هغه کس ځواب ورکړ: "زه يم د دوی مشر."

په اصل کې دا کس د ځان ژغورلو لپاره دروغ وويل، چې خوشې شي او نور پاتې شي.

بيا هغه کس د ټولو خولې، لاسونه او پښې خلاصې کړې او سترګې يې هم ورته پرانيستې. ورته ويې ويل: "راځئ، ما پسې راشئ."

ټول ورپسې روان شول.

ketabton.com - The Digital Library



يوه پراخه ميدان ته ورسيدل. ډېر خلک هلته ولاړ وو. له لرې ځخه يې ورته کتل. يو ډول نارنجي بيرغونه يې په لاسونو کې نيولي وو. دوی په مراتبې ژبه خبرې کولې، خو انس او ملګرو يې نه پوهېدل چې څه وايي.

هلته يو لوی پنډيت ناست و، خوشاله يې غږ وکړ: "راشئ، راشئ! ښه راغلاست، ښه راغلاست!"

بيا يې وويل: "ستاسو مشر څوک دی؟"

هغه پاکستاني، چې ځان يې مشر معرفي کړی و، ژر ورمخکې شو او خوشحالۍ سره يې وويل: "زه يم، صاحب. کوم امر لرئ؟"

پنډيت ورته وويل: "بګوان موږ ته دا بخشش راکړی چې ته زموږ برخه شوې. موږ هر څو کاله د خپلو قبيلو لپاره يو

ketabton.com - The Digital Library



مشر د دیوتا په درشل کې قرباني کوو. دا ځل به ته دا قرباني یې."

پاکستاني کس له ډاره رنګه واوښت او ژر یې وویل: "نه، صاحب! زه د دوی مشر نه یم. ما دروغ وویل چې خوشې شم."

پنډیت چیغې کړې: "ونیسی یې! په رسۍ کلک وتړئ چې ونه تښتي!"

جمیل انس ته غوسه سره وویل: "ګوره! ما خو مخکې هم دا سړی دروغجن او نمکحرام ګڼلی و. ده زموږ د ژغورلو لپاره نه، بلکې د ځان لپاره دروغ وویل. اوس خپله مرګ ته ولاړ."

پاکستاني له ډاره سترګې غټې غټې راکښلی وې، هیڅ یې نه ویلای شو.

ketabton.com - The Digital Library



پنډیت ټولو ته وویل: "تاسې د دې لپاره نیولي شوي یاست چې تاسې زموږ مشر پنډیت راج راجپوتان وژلی دی. اوس به تاسې ټول د مرګ سزا اخلئ. هره ورځ به یو کس د دیوتا لپاره قرباني کوو."

هغه پاکستاني یې د بت مخې ته بوتله او هلته یې سر له تنه جلا کړ. دده په مرګ ټولو خوشالي کوله او چیغې یې وهلې. بیا یې نور ټول بېرته هغې کوټې ته بوتلل، چیرته چې مخکې بندي وو.

په کوټه کې یو وړوکی کړکۍ وه، چې لږه رڼا به ورننوتله.

ټول چوپ ناست وو. زهرا د ډار او نا امیدۍ نه ژړل، او وې ویل: "ایا زما ورور نصیب به هم د دې وحشي هندو زامنو د دیوتا لپاره قرباني کوي؟"

انس ورته وویل: "نه، داسې به نه کیږي. همت ولره. هر مشکل حل لري. موږ به د دې مصیبت نه هم خلاص شو."

ketabton.com - The Digital Library



هغه د زهرا اوښکې په خپلو ګوتو پاکې کړې او په خپله غېږ کې یې ټینګه ونیوله.

یو کس انس ته وویل: "موږ باید د همدې کړکۍ نه وتښتو. بله چاره نشته، که نه دوی به هره ورځ یو یو کس ووژني."

انس وویل: "هو، دا خبره سمه ده، خو دا کړکۍ خو ډېره لوړه ده. څنګه به پورته شو؟"

هغه کس وویل: "تر ماښام پورې به فکر وکړو، بیا به پرېکړه وکړو."

انس هم ورسره موافق شو.

زهرا، چې د انس په څنګ کې ناسته وه، اوس پوره همت له لاسه ورکړی و. د خپل مرګ انتظار یې کاوه. هغه لا اوس

ketabton.com - The Digital Library



هم ماشومانه طبیعت درلود. عمر یې یوازې اوولس کاله و. د انس غوندې زړوره او هوښیاره نه وه.

ماښام شو. ټولو دا پرېکړه وکړه چې یو کس به لاندې وي، دوهم به په هغه باندې، دریم به بیا د هغه سر ته پورته کېږي. دا ډول به یو د بل په اوږو خېژي، تر څو چې یو تن کړکۍ ته ورسېږي. که چیرې نور هم پاتې وي، نو دوی به له خپلو جامو، څادرونو او رسیو نه یوه اوږده پټه جوړه کړي او نور هم پورته کړي.

عمل پیل شو. لومړی انس و. ټول یو د بل په سر وختل. ناڅاپه یې له کړکۍ نه ولیدل چې بهر یو ساتونکی ولاړ دی.

ژر بېرته راکښته شو او ویې ویل: "بهر یو کس ولاړ دی، اوس نه شو تښتېدلی."

څو شېبې وروسته یې بیا هڅه وکړه. دا ځل ساتونکی هلته نه و.

ketabton.com - The Digital Library



د دوی له ډلې تر ټولو پورته کس نصیب و، زهرا ورور. هغه ځان له کړکۍ راواچوه. درب شو، خو ژوندی پاتې شو. بیا بل کس هم ځان راواچوه. ورپسې زهرا، جمیل او نور هم راواوښتل.

یوازې انس او دوه نور ملګري په کوټه کې پاتې شول. دوی هڅه وکړه چې انس هم له کوټې وباسي، خو بلې خوا ته د وتلو اسانتیا نه وه.

دلته نو د جمیل مغزو کار وکړ. فکر یې وکړ، د لرګیو دروازه وه، یوازې یو قلفک یې درلود. قلفک یې خلاص کړ، دروازه هم خلاصه شوه. ټول وخندل. یو کس وویل:

"دومره آسانه وه؟ کاش چې له پیله مو قلف خلاص کړی وای. ناحقه مو ځانونه په زحمت کړل!"

انس او دوه ملګري یې له کوټې ووتل. زهرا ورغله، انس یې په غیږ کې ونیو. انس ورته وویل:

ketabton.com - The Digital Library



"زهرا! دا ځای د تلو دی. ژر شه، ځان ورک کړه. که خبر شول، ټول به مو ووژني."

په حويلۍ کې يو د آس ګاډی ولاړ و، هماغه ګاډی چې دوی پرې راوستل شوي وو. انس غلی غلی ورغی. يو بل ملګری يې هم ورسره و. دواړو په پټه د آس رسۍ خوشې کړې. په يوه وار يې آس ته پنده ورکړه. آس تيز وخوځېد او د دوی نورو ملګرو خواته ورغی.

ټول ژر ژر د آس ګاډي ته وخوتل. د خدای شکر يې ادا کړ، چې له دې مصيبت څخه خلاص شول.

خو د آس د ګاډي شور هندوان له خوبه راويښ کړل. هغوی هم يو بل آس ګاډی او د خلکو ډک کاروان پسې خوشی کړل او تعقيب يې شروع کړ.

ټول حيران وو، چې څه وکړي. هره لار چې دوی نيوله، هغوی پسې راتلل. جميل وويل:

ketabton.com - The Digital Library



"د دې د خلاصون یوه چاره شته که نه!."

انس وویل:

"هو، باید یوه تدبیر وکړو."

دلته بیا د انس د عقل زرین چال وښوول شو. ټولو ورته سلام وکړ.

انس د آس ګاډی یوه ګوښه خوا ته بوت. هلته ودرېدل. شپه وه. هندوان یوازې د دوی د آس په غږ پسې تلل. دوی يې نه لیدل، ځکه هلته هیڅ څراغ نه و. هندوانو د دوی ګاډی و نه لید، او لږ مخکې له دوی تیر شول.

انس د آس لوری بدل کړ او بله لاره يې ونیوله. ټول له ویرې ډک وو، ځکه دا حالت د هر سړي غیرت ته ازموینه ورکوله.

ketabton.com - The Digital Library



شپه ورو ورو تیرېده. دا شپه د دوی لپاره د خوشحالۍ شپه وه، ځکه دوی نوې هیلې او امیدونه لرل. امید یې درلود چې د سبا له ورځې به خپل ښار ته ستنیږي، خپل کور، خپل استوګنځی ته.

## • اتمه ورځ

شپه تېره شوه او سهار راغی، خو دوی لا هم روان ول. کله چې لمر راوخوت، دوی له ډېر اوږد مزل وروسته له هغه ځایه لرې شوي وو. دلته یې پربکړه وکړه چې لږ دمه وکړي، ځکه شپه یې په وېرې کې تېره کړې وه او هېڅوک هم سم نه ویده شوي.

د آس ګاډی یې داسې ځای کې ودراوه چې شاوخوا شنې ګیاوې وې، شا ته یې یو وړوکی غر و، او یوې خواته یوه نری بهېدونکې ویاله روانه وه. دوی او اس اوبه وڅښلې او همدلته یې پړاو وکړ. ټول ستړي شوي وو، هر یو هڅه کوله چې ځان ته مناسب ځای ومومي او هلته لږ استراحت وکړي.

ketabton.com - The Digital Library



نصیب د وړوکي غره سر ته ختلی و. نارې یې وکړې:
"ښاغلي انسه، دلته راشه!"

ټولو د هغه خواته وکتل. انس وویل: "څه خبره ده؟ کومه بله پېښه شوې ده؟"

نصیب وویل: "نه، دلته له نږدې یو کلی دی، هلته به لاړ شو او ځانونه به خوندي کړو."

انس ځواب ورکړ: "سمه ده، خو لږ دمه به وکړو. آس هم ستړی دی، موږ هم لوږي یو او بې خوبي هم زموږ مغزو ته زیان رسولی دی."

نصیب بیرته راکوز شو، د خپلې خور ترڅنګ کښېناست. جمیل هم ورسره و. جمیل وویل: "هلکه، تاسې نور خپلوان هم لرئ؟"

ketabton.com - The Digital Library



نصیب وخندل: "ولې نه لرو! شکر، هر څه لرو. ولې دا پوښتنه وکړه؟"

جمیل موسکی شو: "ښه خبره ده، نو کله چې ښار ته ورسیږو، زه به له زهرا سره د انس نکاح تنظیم کړم."

زهرا چې دا خبرې واورېدې، لږ موسکۍ شوه او مخ یې واړاوه، داسې ښکارېده لکه لږ شرمېدلې وي.

نصیب هم وخندل: "هو، زما خو خوښه ده، خو ښاغلی انس به یې هم ومني؟"

جمیل وویل: "منل او نه منل یې زما په لاس کې دي. اوس خو زما ډېر نیږدې دوست دی، هره خبره مې مني. خو زهرا به یې څنګه مني؟"

ketabton.com - The Digital Library



نصیب زهرا ته وکتل. هغې په تعجب ورته کتل، د سترګو په اشاره یې پوښتنه وکړه: "دا څه وایي؟"

نصیب وخندل: "هو، زهرا هم زما خبره نه ردوي. زه یې ورور یم."

زهرا له بنده څه ونه ویل، خو زړه یې له خوشحالۍ ډک شو.

لږ وروسته انس راغی: "نصیب، ستا خبره سمه وه، دلته واقعاً یو لوی کلی دی. ما هم ولیدل. د ماښام لپاره به هلته لاړ شو."

جمیل ورته وخندل: "راځه، موږ هم ستا او د زهرا په اړه خبرې کولې."

انس شوخ نظر ور واچوه: "بیا دي کومو ګلانو ته اوبه ورکړي دي؟ هلکه ته به نه سمیږې!"

ketabton.com - The Digital Library



ټولو وخندل.

جمیل وویل: "راځه نصیبه، زه او ته به ویالو ته لاړ شو، اوبه به وڅښو."

دواړه ولاړل. زهرا او انس یوازې پاتې شول.

انس وویل: "زهرا، دوی څه ویل؟"

زهرا موسکۍ شوه: "خبرې نه شم ویلی، خو... د زما او ستا په اړه یې څه ویل."

انس لږ مخ جدي کړ: "ښه، دا څه موضوع ده؟"

ketabton.com - The Digital Library



زهرا لږه سا واخیسته، د شاوخوا په لور یې وکتل، بیا یې د انس لاس په خپل لاس کې ونیو: "هغه خو یوازې زما او ستا د خیر خبرې کولې. هغه څه ناسم نه دي ویلي."

انس موسکی شو: "زه پخوا له انجونو ډېر لیرې تلم. هېڅکله مې له ښځو سره دلچسپي نه درلوده، یوازې مې خپل کار او ژوند ته ځان وقف کړی و. خو له هغه ورځې چې ته مې لیدلې، نه پوهېږم ولې هر وخت غواړم تا سره اوسم، ستا سره خبرې وکړم. ځان مې ډېر کنټرول کړ، خو نه توانېدم. دا هم منم چې ستا عمر ډېر کم دی. زه د پنځه ویشتو کلونو یم او ته د ۱۷ کلونو یې، ډېر توپیر دی."

زهرا وویل: "زه پوهېږم. همدا وجه ده چې ته ما ته ګران یې، تا همېشه زما ساتنه کړې ده. زه په تا تر خپل ځان هم ډېر باور لرم. تا هر ځل زما ژوند ژغورلی دی."

دواړه یو بل ته موسک شول، خو لا یې خپل احساسات نه وو ښکاره کړي، ځکه نه وخت مناسب و او نه ځای.

ketabton.com - The Digital Library



مازدیګر شو. آس هم ویده شوی و او ښه ارام یې کړی و. د ټولو ستړیا له منځه تللې وه. بیا ټول آس ګاډي ته وختنه او د خپل سفر مزل یې دوام ورکړ.

ماښام نږدې و، چې د دوی ګاډی یوه کلي ته ورسېد. یو کس د خپل کور له بامه کتل، کله چې یې ګاډی ولید چې د دوړو سره د دوی کلي ته را روان دی، ژر یې نورو ته غږ وکړ: "هلئ! وګورئ څوک را روان دي!"

د کلي خلک د کلي دروازې ته راوتلي وو، د میلمانو په لیدو یې خوښي وکړه. دوی میلمه پال خلک وو، ختین کورونه یې لرل، هر کور کې به غواګانې، چرګې او نور حیوانات وو.

یو کس د دوی مخې ته راغی: "راشئ! تاسې ټول زما میلمانه یاست. موږ د میلمانو ډېر عزت کوو."

ketabton.com - The Digital Library



د دوی ګاډی يې د خپل کور انګړ ته داخل کړ. د هغه کس مېرمن او دوه لوڼې هم وې. هغوی ټولو ته ښه خواړه او اوبه ورکړې.

هغه کس پوښتنه وکړه: "تاسې له کوم ځايه راغلي ياست؟"

ټولو يو بل ته وکتل، نه پوهېدل چې څه ځواب ورکړي. انس تر لږ فکر وروسته وويل:

"موږ له سريلانکا څخه يو."

د کس تندي ګونځې شو، ويې ويل:

"د سريلانکا خلک خو داسې نه وي، هغوی بله لاره لري. تاسو خو د بلې لارې راغلي ياست."

هغه کس لږ څه شکمن شو. انس چې د هغه خبرو ته ځان عادي ښکاراوه، هغه سړی بيا وويل:

ketabton.com - The Digital Library



"ستاسو کالي او ويښتان ولې دومره خراب او ککړ دي؟ لکه چې په مياشت کې مو حمام نه وي کړی."

په دې وخت کې د هغه کس ښځې وويل:

"پريږده يې، مسافر دي. ته يې په ويښتانو او کالو څه کار لرې؟"

هغه کس وخندل، لکه د خپلې مېرمنې خبره يې چې تاييد کړې وي.

انس وويل:

"ستاسې په کور کې هيڅ بت نشته، تاسو په کوم دين ياست؟"

هغه کس لږ فکر وکړ، بيا يې وويل:

"زه مسلمان يم، فکر کوم تاسو هم ټول مسلمانان ياست؟"

انس وويل:

ketabton.com - The Digital Library



"هو، الحمدالله موږ ټول مسلمانان یو، او ډېر خوشحاله یو چې تاسو سره مو ولیدل. کولی شئ موږ ښار ته یوسئ؟ موږ ته لاره نه معلومیږي."

سړي وویل:

"هو ولې نه! تر سهاره صبر وکړئ، زه به یې معلومات وکړم، یو نوی آس به درکړم چې تاسو ورسوي او یو کس به هم درسره مل شي."

ټول خوشحال شول، ځکه هر څه سم روان وو.

د ماښام ډوډۍ تر خوړلو وروسته سړي ورته وویل:

"موږ خو یوازې دوه کوټې لرو، په یوه کې زه او مېرمن مې یو، په بله کې زما دوه لوڼې دي. تاسو به ..."

انس یې خبره پرې کړه:

ketabton.com - The Digital Library



"موږ به په سراي کې ویده شو، هیڅ خبره نه ده، موږ عادت یو."

سړي وویل:

"هلته به یخ وي، هوا خو سړه ده."

انس وویل:

"بس ته یوازې څادرونه راکړه، موږ همهلته سم یو، دا یوازې یوه شپه ده، هر څنګه تېرېږي."

سړي وخندل، ویل:

"رښتیا هم، مسافر ډېر ټینګ وي."

سړي ټولو ته په سراي کې ځایونه او بسترونه برابر کړل، او پیاوړي توسونه یې ورکړل چې تود ویده شي. ټول اته کسان وو.

ketabton.com - The Digital Library



انس په بستر کې پروت و، ستورو ته يې کتل. زهرا راغله، د هغه په څنګ کې يې ځان کيښود، ويې ويل:

"زما ورور هم ډېر شوخ دی، تر جميل يې هم شوخي کې اړولی دی."

انس وخندل، ويل:

"ولې، څه شوي دي؟"

زهرا وويل:

"په زوره يې غوښتل چې زه او ته يوځای ويده شو، بل ځای يې نه پرېښودم."

انس وخندل:

"هو، دواړه ډېر شوخ دي، خو هيڅ خبره نه ده، دلته خو راحته يې."

ketabton.com - The Digital Library



هغې هم وخندل. انس خپل لاس د زهرا د سر لاندې بالښت ته کېښود، زهرا خپل سر ورباندې کېښود. دواړه څه شېبه آسمان ته کتل. زهرا په اړخ واوښته، لاس يې د انس پر بدن واچوه. انس ژر شاوخوا وکتل چې څوک به نه ګوري، بيا يې په غلي آواز وويل:

"ليونـي! که چا ليدلي واى نو؟"

زهرا وخندل:

"نو څه؟"

انس هم خپل لاس د هغې پر بدن کېښود، تر پوزې يې کش کړ، په شوخ انداز يې وويل:

"نو زه شرمېدم بيا..."

زهرا غلې شوه، يوازې انس ته يې کتل. دواړه ډېر نږدې پراته وو، د يو بل د بدن تودوخه يې احساسوله. انس ورو ورو خپل لاس د زهرا له اوږې د هغې نس ته يووړ، د هغې

ketabton.com - The Digital Library



د تنفس له امله يې نس پورته او کښته کېده. انس په شوخ انداز د هغې پر نس کرار چپلاخه وکړه، ويې ويل:

"دا ولې ښوريږي، ها؟"

زهرا وخندل، په مينه ناک آواز يې وويل:

"که رښتيا درته ووايم، هر کله چې ته ما ته نږدې شې، زما سا چټکه شي، بدن مې ريږدي شي، او خبرې مې تولې هېرې شي، زړه مې درب درب وهي."

انس وويل:

"که غلطه ونه ګڼې، غواړم ستا د زړه دربونه واورم."

زهرا:

"څنګه به يې اورې؟"

انس خپل سر د هغې د چپ سينې خواته يووړ، غوږ يې پرې کېښود. د هغې سينه ډېره نرمه وه، د ځوانۍ لومړی پړاو و،

ketabton.com - The Digital Library



نو رښتیا هم د هغې د زړه دربونه یې په خپلو غوږونو واورېدل. څه شېبه یې سر هلته ایښی و، بیا یې پورته کړ، ویې ویل:

"زهرا، یوه خبره درته وکړم؟"

زهرا وویل:

"یوازې یوه؟ درې وکړه!"

انس وخندل:

"خیر، پرېږده، اوس یې وخت نه دی."

زهرا:

"زه دې اندېښمنه کړم، ووایه نو!"

انس:

"نه، اوس نه وایم، هره خبره او هره کړنه خپل وخت لري."

ketabton.com - The Digital Library



زهرا:

"زه ستا د زړه هره خبره درک کوم، که څه هم ته يې نه وايې."

انس:

"رښتيا؟ نو ووايه چې ما څه غوښتل، ولې مې ونه ويل؟"

زهرا:

"سمه ده. تا ځکه ونه ويل، ځکه ته يو شرمېدونکی او چالاک يې. تا چې څه غوښتل هغه دا و."

زهرا خپل سر پورته کړ، خپل تندی يې د انس له تندي سره ونښلوه، بيا يې د انس شونډې په ډېره نرمه او مينه ناکه مينه ښکل کړې، سر يې د انس پر اوږه کيښود، سترګې يې پټې کړې، داسې لکه نور انس ته د مخامخ کتلو جرات ونه لري.

ketabton.com - The Digital Library



انس حیران ورته کتل، هیڅ یې ونه ویل، ځکه زهرا د هغه د زړه خبره درک کړې وه. انس ښادر سم کړ، زهرا یې وپوښله، او تر سهاره پورې یو دبل سره غلي ویده وو. دا شپه هم د نورو شپو په څېر تېره شوه.

## ● نهمه ورځ

جمیل کله چې له انس او نورو څخه لږ لېرې شو، پام یې شو چې دواړه ـ انس او زهرا ـ یو بل غېږ کې نیولي ویده دي.

جمیل وخندل او له ځان سره یې ورو وویل:

«درېغه څومره درواغجن خلک دي! راته وایي چې د یو بل سره هېڅ مینه نه لرو، خو وګوره، څنګه یو د بل په غېږ کې ویده دي.»

د سهار له خوا انس او نور ټول له خوبه راپاڅېدل. د محمد خان په کور کې یې د سهار چای وڅښلو. محمد خان، چې د دوی کوربه وو، وویل:

ketabton.com - The Digital Library



«اوس به موټر راشي. ما ستاسو لپاره یو موټر کرایه کړی دی.»

ټولو خپل اړین شیان راټول کړل او د موټر په انتظار شول. د غرمي لسو بجو ته موټر هم راورسېد ـ یو زوړ جیپ وو. ټول پکې کیناستل او د کلي له خلکو سره یې خداي پامانی وکړه.

انس جمیل ته وویل:

«ګوره، زموږ مسلمان که هر څومره غریب هم وي، خو د بل مسلمان سره حتما مرسته کوي.»

موټر روان وو. د لارې په اوږدو کې ډول ډول کلي او کښتونه تر سترګو کېدل، خو دوی خوشحاله وو. ټول نڅېدل او د خوشحالۍ وارې یې په زړونو خورې وې.

جمیل غلي انس ته وویل:

ketabton.com - The Digital Library



«ښاغلی انسه! تا خو ویل چې زهرا سره هېڅ مینه نه لرې، خو ما پرون ماښام بل څه ولیدل!»

انس، چې سترګې یې مړې اچولې وې او له لږه ګیله منده لهجې سره یې وویل:

«رزیله! ته ولې زموږ پسې ګرځې؟ ته خو له هرې خبرې څخه ناسمه پایله اخلې!»

جمیل وخندل:

«ما خو هېڅ هم نه دي ویلي، قسم خورم! خو سهار مو تاسو دواړه یو بل په غېږ کې ویده ولیدئ. هلکه، دا زهرا خو به تا ته جادو کړی وي!»

انس له شوخ طبعه سره وویل:

«جمیله! زهرا ته زهرا مه وایه، ورینداره ورته وایه!»

جمیل له حیرانتیا خندا سره وویل:

ketabton.com - The Digital Library



«اهاها! بالاخره دې منلې! تا خو ویل چې زه له انجونو څخه تل لېرې پاتې کېږم، خو اوس څه وشول؟»

انس له ملنډو سره ورته وویل:

«رزیله! ته خو زما دوست یې، ته هم همداسې اوسې! خو څه وکړم؟ که زهرا زما پسې په زور منډې نه وای وهلې، نو زه خو سم سړی وم، نو زه هم انسان یم، ملایکه خو نه یم!»

جمیل وخندل:

«ښه دې وکړل! زهرا خو ستا سره ریښتیا مینه درلوده، خو ښکاره یې نشوای درته ویلای. ښه وشول چې هغه بدبخته امیر مړ شو. که نه، ستاسو اړیکه به هېڅکله نه وه جوړه شوې.»

انس جدي شو:

«جمیله! مخکې مې هم ویلي وو چې د چا په مرګ خوشحالي مه کوه!»

ketabton.com - The Digital Library



جمیل وخندل:

«سمه ده، سمه ده! اوس بیا نصیحت مه کوه!»

موټر د اورګاډي تر تمځای راورسېد. موټرچلوونکي وویل:

«دا اورګاډی به مو مستقیماً د ممبۍ ښار ته ورسوي، له هغه ځایه که چېرې غواړئ، هرې خواته تللی شئ.»

انس له موټرچلوونکي څخه مننه وکړه او رخصت یې ترې واخیست. موټرچلوونکي دوی ته نورې نقدي پیسې هم ورکړې، ویې ویل:

«دا محمد خان راکړې دي، ویل یې چې دا پیسې دوی ته ورکړه، چې په لاره کې له کومې ستونزې سره مخ نشي.»

ټول اورګاډي ته پورته شول. تر ماښام مخکې ممبۍ ښار ته ورسېدل. دا یو ډېر اباد ښار وو، هرې خواته جګ جګ تعمیرونه او ښکلي بنګلې ولاړې وې.

ketabton.com - The Digital Library



جمیل له شوخۍ سره انس ته وویل:

«ښاغلی انسه! دلته به لومړی شاهرخ خان سره ملاقات وکړو، بیا به لاړ شو!»

ټولو وخندل او لاره یې دوام ورکړه. ماښام ناوخته نوې ډهلي ته ورسېدل. دا هم یو نوی عصري ښار وو. مختلفو څراغونو او عصري کورونو د دوی پام ځان ته راواړاوه.

دوی ټول د ښار یوې قومندانۍ ته لاړل او ځانونه یې معرفي کړل. قومندانۍ سمدلاسه ټولې رسنۍ خبر کړې. دوی ټولو ته د استوګنې لپاره هوټل ورکړ، او ورته وویل شول:

«په راتلونکو اتو ساعتونو کې به تاسو د الوتکې له لارې خپل وطن ته واستوو.»

په رسنیو کې د دې پېښې خبرونه مخکې له مخکې خپاره شوي وو. ویل کېدل چې د افغانستان د آریانا شرکت یوه

ketabton.com - The Digital Library



الوتکه غورځېدلې ده، مسافرین يې زيات مړه او لږ شمېر يې نادرکه دي.

د دوی په موندلو سره افغانستان ته هم خبر ورکړل شو. د افغانستان چاروواکو دا خبر تاييد کړ او د مسافرينو د انتقال لپاره يې سمدلاسه اقدامات وکړل. دوی غوښتنه وکړه چې مسافرين دې ژر تر ژره واستول شي.

دا شپه د دوی لپاره تر ټولو خوشحاله شپه وه. هر يو د خپلې کورنۍ تصورونه کول او د خپل وطن د بوي په اړه سوچونه.

## • لسمه ورځ

سهار اته بجې و، ټول ويښ وو. ورته وويل شول چې هوايي ډګر ته به وړل کيږي.

ketabton.com - The Digital Library



ټول يې هوايي ډګر ته بوتلل شول. يوه الوتکه ولاړه وه چې دوی ورته منتظر وو.

زهرا ويل: «زه په الوتکه کې نه ځم، که موټر يا اورګاډي ته لاړ شو ښه به وي.»

انس وخندل او ويې ويل: «لېوني ځای ډېر لرې دی، توکل پر خدا دې وي! راځه چې الوتکې ته ولاړ شو.» او له لاسه يې ونيو او الوتکې ته پورته شول.

پرواز وشو.

زهرا وويل: «ستا ياد دی، ښاغلي انس، چې لومړی زه څنګه ستا په څنګ کې کښيناستم؟»

انس ځواب ورکړ: «هو، ياد مې دی، باور وکړه هغه وخت هم ډېر ښکلي معلومېدلې.»

ketabton.com - The Digital Library



زهرا وخندل: «هر څه د يو بد خوب په څېر وو، شکر دی چې تیر شول او موږ ژوندی پاتې شوو.»

انس وویل: «هو الحمدلله! کېدای شي دا ټول د هغه لپاره وو چې زه او ته یوځای شو. زهرا سر د انس اوږه کې کیښود او دواړو وخندل.»

انس ادامه ورکړه: «ما دا فکر کاوه چې دا لس ورځې زه د نړۍ نه بهر یم، په بله نړۍ کې ګرځم. هر څه ډېر جالب وو، خو یوه لویه ګټه مې وکړه، هغه دا چې ته مې پیدا کړې او د ژوند لویه لاسته راوړنه مې ترلاسه کړه، ته پوهیږې ژوند د یو روان بایسکل په څیر دي که چیري تا حرکت پریښود نو بیا حتماً لویږې او خوږیږې خو که چیري تا حرکت کاوه تر منزل له رسیږې او سالم به ځې،

ستا یاد دي چي ډول ډول ستونزو سره مخ سوو مګر که چیري موږ همت د لاسه ورکړي وایي نو موږ به خامخا د نورو په څیر د ژوند سره مخه ښه کول .»

ketabton.com - The Digital Library



الوتکه څو ساعتونه وروسته کابل هوايي ډګر ته ورسيده. کله چې دوی له الوتکې ښکته شول، ډېر کسان د ګلانو سره ولاړ وو. ځينې د زهرا خپلوان وو، ځينې د جميل کورنۍ، او ځينې د انس د دفتر کارکوونکي.

ټولو يو بل غېږ کې ونيول شول، مبارکي يې ورکړه چې ژوندۍ دي او سلامت خپل هېواد ته راستنېدل.

انس نصيب ته وويل: «هلکه، زما نمبر واخله، موږ به بيا ستا کور ته درځو.»

نصيب پوښتنه وکړه: «سمه ده، خو د څه لپاره؟»

جميل وخندل او ويې ويل: «لېونيه د مرکې او د انجلي د غوښتلو لپاره درځي. نور بيا زهرا بايد د انس ښځه شي.»

ketabton.com - The Digital Library



ټولو وخندل او په خوشحالۍ کورونو ته لاړل.

څو ورځې وروسته، زهرا او انس یو له بل سره واده وکړ او رسمي یې نکاح وکړ. دواړه یو بل ته خاوند او ښځه شول خو په دې واده کې ترټولو ډیره نڅا جمیل وکړل او جمیل رښتیا هم د انس تر ټولو ښه ملګري وو. انس خپلې هیلې او مینې ته یې په ریښتینې عقیده او میړانه ورسیدل، نه په زحمت، بلکې په صداقت او محبت.

**❖ پای.**

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*